# حکومت د عصري او دیني زده کړو ترمنځ واټن له منځه وړي



د افغانستان اسلامي امارت د لوړو زده کړو سرپرست وزیر شیخ ندامحمد ندیم روزګان ولایت ته د خپل سفر په ترځ کې ویلي، افغانستان په بېلابېلو برخو کې مسلکي کادرونو ته اړتیا لري او د لوړو زده کړو وزارت هڅه کوي تر څو د دغو کادرونو د روزولو لپاره لا ډېره زمینه برابره کړي. نوموړي ویلي، هېواد کې د لاډېرو کادرونو روزلو سره به په دغې برخه کې د بهرنیو هېوادونو له احتیاج څخه خلاص شو.د لوړو زده کړو سرپرست وزیر دغه راز د افغانستان اوسنی نظام یو بشپړ اسلامي نظام ... ۵مخ



# شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۲۵۰ ګڼه / یکشنبه ۱۱ صفرالمظفر ۱٤٤٥ هـ.ق / ۵ سنبله ۱٤۰۲ هـ.ش / ۲۷ اګست ۲۰۲۳ میلادي



# د کابینې په غونډه کې د برښنا د بیو د کمولو په اړه بحث وشو



د اسلامی امارت د کابینې په غونډه کې د نورو پرېکړو او تصمیمونو ترڅنګ د برېښنا ضایعاتو د سلنې کمولو، د معاشونو کنټرول، اړوندو هېوادونو سره د مفاهمې له لارې د برېښنا د بیې کمولو او تعرفې اړوند یو پلاوي ته مسوولیت سپارل شوی دی. دا پلاوی چې د بهرنیو چارو وزارت د سرپرست وزیر په مشرۍ تاکل شوی، د سیمو، منابعو او یا هم د برېښنا د استعمال د کچې له مخې د برېښنا تعرفې د تفاوت د جواز او نه جواز ... ۵مخ

## حنفي: سیمه ییز مسؤلین مکلف دي چې د خلکو ستونزې حل کړي



د ریاست الوزرا اداري مرستیال مولوي عبدالسلام حنفي ورېمه ورځ د هېواد د بېلابېلو ولایتونو له یو شمېر دیني عالمانو، متنفذینو او سیمه ییزو مسؤلینو سره په کتنه کې وویل چې سیمه ییز مسؤلین د خلکو د خدمت او د هغوی د ستونزو د حل په برخه کې مکلفیت لري او په دې برخه کې باید هېڅ ډول ناغېرې ونکړي. یادو دیني عالمانو او قومي مشرانو په دغه کتنه کې په خپلو ولایتونو کې د ټولنیز، اقتصادي او سیمه ییزې حکومتولۍ په اړه د ریاست الوزرا اداري مرستیال ته مالومات ورکړل. دوی په هېواد کې د سرتاسري امنیت پر ټینګښت خوښي څرګنده کړه او ویې ویل، چې سیمه ییز مسؤلین خلکو ته د خدمتونو رسولو او د دوی د ستونزو د حل په برخه کې هڅې نه سپموي.دوی همدارنګه ... ۵مخ

## بلخ کې جامع جومات جوړېږي

د بلخ ولایت د شولګرې ولسوالۍ په سیاب کلي کې د یوه جامع جومات د جوړېدو د بنسټ ډبره کېښودل شوه.د بلخ والي حاجي محمد یوسف وفا د باختر آژانس خبریال ته وویل، د یاد جومات د



رغولو چارې یې داسې مهال پیل کړې چې عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله مسوولینو ته سپارښتنه کړې چې د جوماتونو او مدرسو رغونې زیاتې کړي.د یادونې وړ ده، چې دغه جومات په ۶۲۵ متره مربع ځمکه کې جوړېږي او لګښت یې د ولس له خوا ورکول کېږي.

## ترکي پانګوالو په افغانستان کې پانګونې ته زړه ښه کړی



د سوداګرۍ او پانګونې خونه وايي، په نږدې راتلونکي کې به یوشمېر ترکي پانګه وال افغانستان ته راشي. د دغې خونې سرپرست محمد یونس مومند زیاتوي، ترکي پانګوال لېواله دي چې افغانستان کې د سړکونو د جوړولو، انرژۍ، صنعت او کرنې په برخو کې پانګونه ... ۵مخ

## له پاکستانه څه باندې ۸۰۰ افغان کډوال راستانه شوي

د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت چارواکي وايي، له پاکستانه ۸۲۷ تنه کډوال چې ۱۳ یې له زندانه خوشي شوي وو، هېواد ته راستانه شوي دي.

د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت په خپله یوه اعلامیه کې لیکلي چې د کندهار ولایت د سپین بولدک له لارې ۱۴۲ کډوالې کورنۍ هیواد ته راستانه شوي دي. په سپین بولدک کې د کندهار د مهاجرینو د چارو رئیس امیرسر هادي په وینا، د یادو کسانو له جملې څخه ۱۴۲ کورنۍ چې ۸۱۵ تنه یې په خپله خوښه خوشې شوي او ۱۳ نور یې له بنده خوشې او په زوره هېواد ته راستانه شوي دي. سرچینې زیاته کړه، چې یاد شوي کسان د لومړنیو مرستو په موخه تر ثبت وروسته د مهاجرت نړیوال سازمان او د ملګرو ملتونو د کډوالو عالي کمېشنرۍ ته ورپېژندل شوي دي. دا په داسې حال کې ده، چې تر دې ... ۵مخ

## ازبیکستان له افغانستان سره د هر اړخیزې همکارۍ لېوالتیا ښودلې

د ازبکستان هېواد یو لوړپوړی ۳۰ کسیز سوداګریز پلاوی نن غرمه د ۲ ورځنی سفر په موخه کابل ته راورسېد. د یاد پلاوي مشري د ازبکستان د سوداګرۍ او صنعت وزارت لومړی مرستیال ناظم جان خالمرادوف کوي.یاد سفر د دواړو هېوادونو د سوداګریزو اړیکو د پیاوړتیا او پراختیا له پاره له ارزښت ډک بلل کېږي. ازبکستان د برېښنا، ټیکنالوژۍ ... ۵مخ

## هېوادوال دې د غربي تبلیغاتو پر وړاندې فکري مبارزه وکړي



د کابل دشت برچي سیمه کې د اهل تشیع قومي مشرانو او ځوانانو له لوري د اسلامي امارت خپلواکۍ دویمه کلیزه نمانځل شوې.

په دغه نمانځغونډه کې د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو مسلکي مرستیال مولوي احمد طه قادري، وزارت د دعوت او ارشاد رییس مفتي شفیع الله ثاقب، د بهرنیو چارو وزارت سیاسي مرستیال شیر محمد عباس ستانکزی، دولتي مسوولینو، د اهل تشیع دیني عالمانو او قومي مشرانو ګډون کړی وو. ۵مخ


په اسلامي نظام کې د جنګي محبوسینو حقوق ۲ مخ

عـوامل اسـاسی رویکـرد مجـرمانه به جـرایم سـازمان یافـته ۳ مخ

اصول استراتیژی از نظر اسلام ٤ مخ


## سرمقاله

# د هوساینې لپاره عملي ګامونه پورته کېږي

منل شوې حقیقت دی چې د هر واکمن نظام له بدلون سره یو لړ ستونزې موجودې وي ځکه واک ته د رسېدونکو واکمنانو په دریځو نو، کړو وړو او موخو کې توپیر موجود وي همدا وجه ده چې هر واکمن خلکو ته د خدمت کولو لپاره ځانته ځانګړنې غوره کوي او د هغو لارو په لټون بوخت وي،چې د هېوادوالو د هوساینې لپاره اړین وي. اسلامي امارت د یوې خونړۍ او تپل شوې جګړې را وروسته چې د اشغالګرو د ماتې او تېښتې لامل وګرځېده اسلامي امارت ته نه تنها ډول ډول ستونزې را پرېښودې بلکې هڅه یې وکړه چې د اسلامي امارت لپاره هغه غیرې مسؤلې وسله والې ډلې بیا په وسلو سمبال کړي،کومې چې د افغانانو له کرکې سره مخ شوې اشغالګرو چې د اسلامي امارت په وړاندې هره دسیسه او طوطییه ناکامه ولیده،نو د اقتصادي بندیزونو په اوږد مهاله کولو سره یې ناوړه تبلیغاتي پلمه ییزې هڅې پیل کړې،تر څو د راپاتې شویو ستونزو د رغاونې پر وړاندې خنډونو ته لمن ووهي. خو اسلامي امارت چې د شل ... ۵مخ


## د قوش تېپې کانال د لومړي فاز چارې د بشپړېدو په حال کې دي



د ملي پراختیا شرکت وايي، چې د قوش تېپې کانال د لومړي فاز چارې د بشپړېدو په حال کې دي او ژر به ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.د یاد شرکت اجرایوي رییس عبدالرحمن عطاش تېره ورځ بلخ ته په سفر کې له دغه کانال څخه د لیدنې پر مهال مسوولینو ته ویلي چې د کانال کمیت او کیفیت ته باید هر اړخیزه پاملرنه وشي.په همدې حال کې بیا یاد شرکت ویلي چې د قوش تېپې کانال اړوند د مزار شریف ــ حیرتان سړک، ریل پټلۍ او پلونو باندې هم په چټکۍ کار روان دی، چې چارې به یې ډېرې ژر بشپړې شي.قوش تېپه د افغانستان لپاره له مهمو کانالونو څخه ګڼل کېږي، چې د چارو په بشپړېدو سره به یې افغانستان د کرنې په برخه کې تر ډېره پر ځان بسیا شي.

## ده ها جادوگر و تعویذ نویس در مرکز و ولایات بازداشت شدند

ده ها جادوگر و تعویذ نویس از سوی محتسبین وزارت امر بالمعروف و نهی عن المنکر در کابل و ولایات بازداشت شدند. وزارت امرو بالمعروف و نهی عن المنکر با نشر این خبر گفته است: محتسبین این وزارت در حوزه ششم شهر کابل جادوگر ماهری را بازداشت کرده‌اند که در امور خانوادگی اختلافات ایجاد کرده بود. ص۵



## د بغلان اوبو رسولو اداري عواید ۴ میلیونه افغانۍ زیات شوي

د بغلان د اوبو رسولو اداري مسوولین وايي، چې د یادې ادارې عواید د تېر کال په پرتله نږدې ۴ میلیونه افغانۍ زیات شوي دي.د بغلان د اوبو رسولو ادارې مسوول محمد ظاهر صمیمیار د باختر آژانس خبریال ته وویل، چې په ۱۴۴۳ هجري قمري کال کې د یاد ریاست عواید ۱۱ میلیونه ۳۴۸ زره افغانۍ وو او په ۱۴۴۴ هجري قمري کال کې توانېدلي ۱۴ میلیونه ۹۷۵ زره افغانۍ عواید راټول کړي، چې دغه شمېر ۳ میلیونه ۶۲۶ زره افغانۍ زیاتوالی ښیي.نوموړي زیاته کړه، چې سږ کال یې د اوبو رسولو د لسو شبکو په جوړولو سره ۵۰۰۰ کورنیو ته د څښاک اوبه برابرې کړې دي.همدارنګ هغه زیاته ... ۵مخ



# د خلکو له منځه د خلکو لپاره حکومت باید څنګه وي؟

**تبصره:**



که د افغانستان، خراسان، باختر او اریانا تاریخونه مطالعه کړو، نو پوه به شو چې افغانانو هېڅ کله هم پردیو ته سر نه دی ټیټ کړی، خپل ډېر څه یې له لاسه ورکړي ، خو د پردیو یرغلګرو او اشغالګرو پر وړاندې یې مبارزه نه ده پرې ایښې.

تېرو څو پېړیو ته که کتنه وکړو نو پوهېږو چې دلته ډېرو بهرنیو اشغالګرو هڅه وکړه چې د خپلو افغان لاسپوڅو په مرسته کابل تر استعمار لاندې راولي او دلته یې د دایمي پاتې کېدو او خپلو موخو د ځارلو هڅه کړې ده.

دا یو واضح حقیقت دی، هېڅ افغان چې ابدالي جذبه یې په رګونو کې خوځېږي، نه غواړي هېواد یې د پردیو تر استعمار لاندې وي او هغه تش په نوم افغانانو چې د تاریخ په اوږدو کې یې د پیسو او نورو مادیاتو په بدل کې بهرنیانو ته د افغانستان د استعمار لاره هواره کړې، ابدالي افغانان نه؛ بلکې ګوډاګیان دي، چې د یو څو پیسو او مادیاتو په بدل کې خپله مور وطن خرڅوي، هغه څه چې هېڅ کله هم په افغانستان کې تلپاتې نه وو او دغه ډول غلامانو او د هغو بهرنیو ملاتړ کوونکو تل دلته ماتې خوړلې او له شرم څخه په ډک حالت کې یې افغانستان پرېښی دی.

اوس خبره دا ده، چې څوک کولی شي له هراته تر ننګرهار او له بدخشان څخه تر کندهار پورې د ټولو افغانانو باور او زړونه لاسته راوړي او وکولی شي د افغانانو په خوښه پر کابل حکومت وکړي؟

دا چې افغانان هېڅکله د بهرنیو او د هغوی د غلامانو غلامي نه مني، نو د پورتنۍ پوښتنې ځواب داسې کېدای شي، چې پر افغانانو باید داسې څوک حکومت وکړي،چې د دغه غیور ملت له منځه را پورته شوی وي، له افغانانو سره یې کلونه په یو دسترخوان ډوډۍ خوړلې وي او په هر ډول ښو او بدو حالاتو کې له افغانانو سره اوږه په اوږه ګامونه پورته کړي وي.

هو د اسلامي امارت کشران او مشران که په دقیقه توګه یې ارزونه وشي نو پورتنۍ ټولې ځانګړتیاوې لري، دوی تل په افغانستان کې وو او په هر ډول حالاتو کې یې د افغانانو د درد ارامولو لپاره هڅې کړې دي، د اسلامي امارت مجاهدینو د افغانانو په ښادیو او غمونو کې په مستقیم ډول ګډون کړی، په خوښیو یې ورسره وخندل او په غمونو یې ورسره وژړل، دوی لکه د بهرنیو یرغلګرو او د هغو د لاسپوڅو په څېر د خپلو هېوادوالو پر کورونو چاپې نه دي وهلې او عام افغانان یې پر سپیو نه دي داړلي، دغو اسلامي لښکرو هېڅکله خپل ارزښتونه د یو څو روپیو په بدل کې خرڅ نه کړل او په افغانستان کې یې د لوېدیځ فرهنګي یرغل ته زمینه برابره نه کړه، دوی تل د افغانستان اسلامي، فرهنګي او نور ارزښتونه د سر په بدل کې وساتل او په همدې موخه یې کلونه کلونه مبارزه وکړه، د اسلامي امارت لښکرو هم لکه د تېر تاریخ د افغانانو په څېر په کلکه له خپلو ټولو اسلامي او افغاني ارزښتونو څخه دفاع وکړه او اوس یې د ساتنې لپاره سرښندنې کوي.

نو ویلی شو، چې اسلامي امارت د خلکو له منځه راپورته شوی او د خلکو لپاره کار کوي او همدوی کولی شي د ټولو افغانانو حقوقو ته په مساوي ډول رسېدنه او پر کابل حکومت وکړي.

# په اسلامي نظام کې د جنګي محبوسینو حقوق

پوهیالی محمد یعقوب - مومند

**سریزه**

د انسانانو ترمنځ د یو او بل په حق، مال، ځان او ناموس تېري کولو ته جنګ وایي، دا یو جرم هم دی،د دې جرم لړۍ د ځمکې پرمخ آدم (علیه السلام) د زوی قابیل لخوا د شیطان په لمسون هغه خپل ورور هابیل ووژه. د هغه وخت نه تر نن ورځې پورې د انسانانو په منځونو کې جنګونه او یو پر بل تېري د بېلابېلو لاملونو له مخې، په بېلابېلو طریقو او بڼو ادامه لري. جرمونه او مجرمین په انساني ټولنو کې له پخوا هم کېدای شي په راتلونکې کې به هم وي. له جنګي بندي سره د دښمن له لوري چلند د تاریخ په بېلابېلو پړاوونو کې بېلابېل و ، د اسلام د مبارک دین تر راتګ مخکې له جنګي محبوسینو سره ډېر ظلم کېده ، تل به سخت مجازات ورکول کېدل، خو د اسلام مبارک دین جنګي بندیانو ته یو لړ حقوق وضع کړل او د هغوی ورکړه یې په خپلو پیروانو واجب وګرځوله، همغه وو چې د جنګي محبوسینو وضعیت په اسلامي ټولنه کې ښه شو. په دې اړه الله تعالی فرمایي ژباړه:د الله (ج) نیک بنده ګان خپل محبوب خواړه مسکینانو،یتیمانو او اسیرانو ته خاص د الله(جل جلاله ) د رضا لپاره ورکوي او د بدلې او منڼې انتظار نه باسي.( ۹-۸ سورة الدهر).

خو په غیر اسلامي ټولنو کې تر ډېرې مودې د جنګي بندیانو وضع خرابه وه، د نولسمې میلادي پېړۍ په پیل کې د یو تعداد روښان فکرانو او سازمانونو له لوري د جنګي بندیانو د وضعې د ښه والي لپاره هلې ځلې پیل شوې، د یو لړ سمینارونو او کنفرانسونو په دایرولو سره په دې وتوانېدل چې له جنګي بندیانو سره د انساني چلند لپاره یو شمېر کنوانسیونونه او تړونونه لاسلیک کړي چې په پایله کې جنګي بندیانو ته یو شمېر حقوق ورکړل شول او د هغوی وضع ورسره نسبتاً ښه شوه.

**په اسلامي شریعت کې د جنګي محبوسینو پېژندنه:**

د اسلام د مبارک دین د اصولو په بنسټ اسیر یا جنګي محبوس هغه چاته ویل کېږي چې د جنګ په میدان یا بل ځای کې د جنګ په حالت کې ونیول شي، نه دا چې د دښمن د تسلط لاندې ټولو افرادو او اشخاصو باندې چې د مسلمانانو په تصرف کې راغلي اطلاق وشي. په قرآنکریم کې د جنګي بندي یا په ټوله کې د بندي لپاره د اسیر کلمه کارول شوې ده. همدارنګه په ځینو نورو ځایونو کې هم په قرآنکریم کې د اسیر کلمه راغلې چې اسلامي فقهاوو له نظره یې لاندې بیانوو.

**د اسلامي فقهي د علماوو له نظره د اسیر مفهوم:**

د اسیر کلمه چې له ( اسر ) نه اخیستل شوې د تړلو او په بند کې د اچولو په معنی ده. الله تعالی فرمایي ژباړه : موږ انسان پیدا کړ او د هغوی اعضاوو ته مو یو له بل سره محکم ارتباط ورکړ او هر کله چې موږ اراده وکړو هغوی به یوله بله بیل او نور به د هغوی ځای ناستي وګرځوو). دی آیت نه دا معلومېږي چې هر تړل شوي شخص ته د اسیر کلمه وکاروو، هغه څوک چې محبوس وي هم د اسیر کلمه ورته کارولای شو. هغه څه چې دلته د پام وړ دي هغه دا دي چې ښکاره د اسیر په اصطلاح کې د شخص تړل مهم ګڼل کېږي. د هغه افرادو لپاره چې نیونه یې قید او بند ته اړتیا نه لري لکه ښځې ، ماشومان او بداګان، په هغوی د(سبایا) اطلاق کېږي د اسیر اصطلاح ورته نه کارول کېږي. د ښه وضاحت لپاره د اهل سنتو علماوو او مفسرینو نظریات او رایې په بېلابېل ډول مطالعه کوو.

۱- خلیل نحوي وایي: دا چې ویل کېږي یوچا بل څوک ونیو یعنې هغه یې په قید او بند کې وا چاوه نو اسیر یعنې تړل شوی په بند کې، او هر هغه شی چې دوه طرفه یې یو له بل سره واړن ولري او دواړه لوري یې یوله بل سره وتړل شي په حقیقت کې اسیر یا بندي شوی دی.

۲ - امام راغب اصفهاني وایي: د اسیر مصدر د تړلو او قید په معنی ده ځکه خو ورته اسیر وایي، ولې وروسته په تدریج سره هربندي شوی یانیول شوی کس ته اسیر وویل شول که څه هم په بند کې نه وي اچول شوی .

او په دارالمنجد کې راغلي دي : سبي هم د اسیر په معنی دی مګر غالباً د نارینه وو لپاره د اسیر اصطلاح او د ښځینه وو لپاره د سبي یا سبایا اصطلاح کارول کېږي.

**په اسلامي شریعت کې په جنګ کې د نیول شویو محبوسینو احکام:**

په اسلام کې جنګي محبوسین هغه که د اسلام او کفر ترمنځ جنګ کې نیول شوي وي، که د مسلمانانو د داخلي یا خپلمنځي جګړو په ترڅ کې ونیول شي د خاصو احکامو لرونکي دي، چې موږ یې بېلابېل مطالعه کوو.

**د اسلام او کفر په جنګ کې نیول شوي محبوسین**

الله( ج ) فرمایي : ژباړه: هیڅ پیغمبر حق نه لري د دښمن بندیان ونیسي تر څو یې په هغوی خپل تسلط کاملاً نوي ټینګ کړی تاسو د دنیا نا پایښته ګټه غواړۍ مګر الله (ج) تاسو ته آخرت غواړي او الله حاکم او قادر ذات دي که چېرې د الله تعالی پخوانی فرمان نه وو ((بې له خبرتیا هیڅ امت ته مجازات نه ورکول کېږي)) په دې خاطرچې اسیران مو نیولې ؤ تاسو ته به شدیده جزا درکول شوې وه. اې پیغبره هغه اسیرانو ته چې ستا په لاس کې دي ورته ووایه که چېرې الله تعالی ستاسو په زړونو کې نیکي وګوري یعنې پاک نیت ولرئ له هغه څه نه به بهتر درکول شي کوم چې له تاسو نه اخیستل شوي او تاسوته به ښښنه وکړي او الله ( ج ) ژوندی اومهربان ذات دی او که چېرې هغه له تاسو سره د خیانت نیت ولري لکه چې له الله سره یې په خوا هم خیانت کړی ی نوالله به تاسو پرهغوی کامیاب وګرځوي خدای (ج )پوه او حکیم ذات دی.( سورت انفال:۶۷ـ۷۱،). په دې اړه الله(ج) بیا فرمایلي ژباړه : د الله (ج) نیک بندګان خپل محبوب خواړه خاص د الله ( ج ) لپاره مسکینانو یتمانو او اسیرانو ته ورکوي او د بدلې او منڼې انتظارنه کوي(الدهر ۸). همدارنګه د پیغمبر (صل الله علیه وسلم) عملي کړنلاره په تقریباً اتیا غزاګانو چې له کفارو سره یې ترسره کړې هیڅکله یې جنګي محبوس په دې دلیل چې د ده یا د اسلام په خلاف یې په جنګ کې برخه اخیستې نه دی وژلی او نه یې هغه په غلامۍ نیولی، له دې د جنګي محبوسینو په باره کې د اسلام د مبارک دین ټولیزه کړ نلاره معلومېږي. رسول (صل الله علیه وسلم) د بدرد غزا محبوسین چې د مسلمانانو سرسخت مخالفین هم و بغیر له دوو نفرو نور ټول یا د فدیې په مقابل او یا بې له فدیې نه آزاد کړل او هغه دوه نفره چې ترنیول کېدلو وروسته ووژل شول هغه یو(عقبه بن ابومعیط) وو چې له مسلمانانو سره یې مخکې له هجرت نه او وروسته ډېرظلمونه کړي وو او یو جنایتکار انسان و د مثال په ډول یوه ورځ رسول (صل الله علیه وسلم) په (دارالندوه ) کې لمونځ کاو، چې عقبه یې په غاړه پښه کېښوده او د خولې لاړې یې پرې واچولې اودویم کس چې ووژل شو هغه (نضربن حارث) ؤ چې په مکه کې د مسلمانانو د شکنجه کولو مسؤل و. باید وویل شي چې دا دواړه کسان د دا ډول جرایمو مرتکب شوي وو، چې د جنګ له صحنې نه یې خارج ترسره کړي و او دا ډول اشخاص د نننۍ نړۍ د قوانینو په اساس هم د مجازاتو وړ دي او محاکمه کېږي. حسن بصري، عطا او سعید بن جبیر په دې معتقد دي چې له دې ډول محبوسینو سره د چلند مرجع د محمد سورت څلورم آیت دی کوم چې الله (ج) فرمایي: ژباړه: یعنې هغوی د منت یا فدیې په مقابل کې ازاد کړئ. امام ماوردي لیکي : امام د اسیرانو په اړه د دې څلورو صورتونو نه د هغه ښه او غوره په انتخابولو کې اختیار لري: ۱- وژل ۲- په غلامۍ نیول ۳- د مال یا اسیر په مقابل کې ازادول ۴- له هغه سره نیکي کول او عفوه ورته کول . البته وژل یواځې د هغه محبوسینو لپاره روا بولي لکه چې مخکې ورڅخه یادونه وشوه کوم چې په جنایتونو تورن وي .

**د مسلمانانو په خپل منځي جګړو کې نیول شوي محبو سین**

هغه محبوسین چې د مسلمانانو په خپل منځي جګړو کې ونیول شي، له اصحابوکرامو(رضی الله عنهما) څخه په دې اړه زیات روایتونه راغلي ، چې د هغوی په اساس مسلمان بندي که چېرې د جنګ له جبهې نه خارج د کومو جرمونو لکه قتل او نورو مرتکب شوي نه وي نو نه یې وژل جائز دي او نه ورڅخه فدیه اخیستل کېږي ، بلکې باید بې له فدیې ازاد شي، د بیلګې په ډول علامه مجلسي روایت کوي، چې حضرت علي (رض)مالک اشتر پدې مامور کړ چې د شام له یوه اوسېدونکي ( اصبغ بن ضرار) چې دودیده بان د لښکر مشرؤ مقابله وکړي، مالک هغه بې له مقابلې ونیو، خو کله چې مالک ولیدل د هغه حکم وژل نه دي نو له حضرت علي (رض) نه یې وغوښتل چې هغه زما په خاطر وبښه، حضرت علي(رض) وفرمایل هغه مې ستا په خاطر عفوه کړ او ورپسې یې زیاته کړه مالکه هر وخت چې دې محبوس ونیو، هغه مه وژه نه، ځکه چې نه له اهل قبله اسیرنه فدیه اخستله کېږي اونه هغه وژل کېږي. د یو بل روایت له مخې د صفین د جنګ بندیان هم د دواړو لورو لخوا بې له کوم عوض آزاد شوي و. دا خو د اصحابوکرامو تګلاره وه او په هغه وخت کې د امام په مقابل کې د سرکشۍ او بغاوت پېښې هم دومره نه واقع کېدلې ،ولې وروسته چې د مسلمانانو تر منځ خپل منځي جګړې او بغاوتونه راپیدا شول، نو اسلامي علماو هم د دا ډول بندیانو په رابطه بېلابېل نظریات ارایه کړل ، د اهل سنتو علماوو له جملې نه حنبلي فقها د دا ډول بندیانو په اړه داسې نظر لري چې د مسلمانو د داخلي جګړو بندیان عموماً ازادېږي او دا هم جایزه ده چې د جګړې تر پای ته رسېدو پورې دې محبوس کړای شي، مګر دا په هغه صورت کې چې د چا د وژلو مرتکب شوي نه وي اوکه یې چېرې څوک وژل شوی وي نو په دې صورت کې د ځینو علماؤ په نظر باید قصاص کړای شي او د ځینو نورو په نظر باید دیت ورکړي او په دې هکله د ښځې او نارینه ترمنځ تو پیرته هم قائل نه دي ،خو د امام ابو حنیفه د پیروانو نظر بیا داسې دی چې د دښمن جنګیالي په هغه صورت کې چې د بیا راټولیدنې اوسرکشۍ امکان ورنه لیدل کېږي نو د مسلمانانو امام کولای شي چې هغه په توبه باندې مجبورکړي اوکه توبه ونه باسي نو وژل یې هم جائز دي ولې هغه چې نظامي ملاتړ ترشاه نه لري هغه نه وژل کېږي او بغیر له ښځو ،ماشومانو او بداګانو نه نورو ته مجازات ورکول کېږي، خو هغه کسان چې د مجازاتو مستوجب نه دي سمدستي ازادېږي او یا که چېرې مصلحت د دې ایجاب وکړي،نو یوڅه موده په توقیف کې ساتل کېږي او د دې نظر طرفداران د امام شافعي پیروان دي ځکه د سمدستي ازادۍ په صورت کې د هغوی د بیا راټولیدنې او جګړې د ادامې امکان موجود دی، په دې اړه د (ابن قدامه ) د خبرو متن دا ډول دی : هغه وخت چې باغیان مات شي نو فراریان یې نه تعقیبېږي ، زخمیان او بندیان یې نه وژل کېږي . د اسلام دا دریځ که له مسیحي ټولنو او نړیوالو قوانینو سره مقایسه کړو نو د اسلام د قوانینو برتري د هغوی په قوانینو په ډېر ښه ډول ثابتېږي.

**د اسلامي شریعت له نظره د جنګي محبوسینو حقوق**

۱-جنګي محبوسین ته شکنجه او آزار ورکول منع دي، د یو روایت له مخې د بنو قریظه په جنګ کې محبوسین لمرته ناست وو پیغمبر(صل الله علیه وسلم) خپلو یارانو ته وفرمایل محبوسین سیوري ته ورسوئ ترڅو خوب او آرام وکړي د لمراو تورې تودوخه یوځای پرې مه راولئ.

۲-جنګي محبوسین کولای شي د ازادۍ د لاس ته راوړلو لپاره د ځینو شیانوپه مقابل کې چې پیسې اوکارهم ورپه کې شامل دي لاس پورې کړي.

۳- که چېرې جنګي بندي پیسې یا بل څه د خپلې آزادۍ د معاوضې لپاره ونه لري نو د اسلامي دولت له لوري د څو بېلابېلو حالاتو په ترڅ کې د هغوی د بلاعوضه ازادۍ تصمیم نیول کېږي.

٤- په اسلام کې اصلاً د جنګي محبوسینو د بي قید اوشرطه ازادي توصیه شوي او رسول اکرم (صل الله علیه وسلم) په خپله هم داسې اقامات کړي لکه د بدر او حنین د غزاګانو بندیان چې بې له کوم بدل نه ازاد کړل چې تفصیل یې مخکې تېر شوی دی.

٥- ترهغه وخته چې جنګي محبوسین د مسلمانانو په اسارت کې وي باید ورته کافي خوراک څښاک برابر کړي او د هغوی د آرامتیا لپاره زمینه برابره کړي، پیغمبر(صل الله علیه وسلم) به هم په دې ټکي ډېر ټینګارکاوه.

٦- که په جنګي محبوسینو کې د ژبې او علم څښتنان موجود وي د هغوی د مؤقتي استخدام او مسلمانانو ته د درس په ور زده کولو سره هم آزادۍ ترلاسه کولای شي .

٧- د اسلام په حقوقي نظام کې د جنګي محبوسینو او جنګي مجرمینو ترمنځ فرق شته نوځکه تر تسلیمۍ وروسته هر جنګي محبوس جنګي مجرم نه ګڼل کېږي د جنګي مجرم سره اړونده قاضي حساب کوي او د جرم په تناسب ورته مجازات ورکول کېږي او د نننۍ نړۍ د قوانینو غوښتنه همداشان ده .

٨- که داسې وي چې د جنګي بندیانو تعداد زیات وي او جهاد هم په نورو محاذونوکې نه وي ختم شوی او اسلامي حکومت یا د محاذ اعلی قومنداني هم د دښمن د ټولو اسیرانو بل خصوص د ځوانانو د خوشې کولو نه دا خطر احساس کړي چې بیا به د دښمن د صفوفو سره یوځای شي نو پدې وخت کې اسیران تر خلع سلاح وروسته په توقیف خانه کې ساتل کېږي .

**پـایلـه**

له دې لیکنې نه موږ دا پایله اخیستی شو چې د بشریت په ټول تاریخ کې د انسانانو تر منځ همیشه شخړې او جګړې پېښې شوي او واقع کېږي چې په ترڅ کې همېشه انسانان وژل شوي او محبوس شوي. له اسلام نه مخکې د جنګي محبوسینو سره غیر انساني چلند کېده،خو د اسلام مبارک دین په راتګ سره د دې ډول محبوسینو په حالت کې تغیر راغی هغوی ته په زیاتره مواردو کې د مجازاتو ورکول لغوه شول اوځانګړي بشري حقوق او امتیازونه یې ورته وټاکل او مسلمانان یې د هغې په منلو مکلف کړل. جنګي محبوسین د مجرمینو او نورو عادي وګړو نه تفکیک شول. په غیر اسلامي ټولنو کې تر ډېره وخته د جنګي محبوسینو وضعه او حالت هم د نورو عادي محبوسینو او مجرمینو په شان ښه نه و، چې تل به د خپلو دښمنانو له خوا د سختو مجازاتو سره مخ کېدل خو په معاصرو پیړیو کې د ځینو روشن فکرانو په هڅه او کوشش د جنګي بندیانو د وضعې د بهبود لپاره یو شمېر سازمانونه او ټولپې رامنځته شوي.


اخځلیکونه

۱-القرآن الکریم

۲- ابراهیمي، محمد( ۱۳۷۷ ه ش) اسلام و حقوق بین الملل عمومي، چاپ اول. تهران: سازمان مطالعه وتدوین کتب علوم انساني دانشګاه( سمت )

۳- ارفعي،عالیه،ومحمود مسائلي( ۱۳۷۳ ه ش) جنګ و صلح ازدیدګاه حقوق و روابط بین الملل . چاپ دوم . تهران : وزارت امور خارجه موسسه چاپ وانتشارات.

۴- قندهاری، محمد نادرایوبي(۱٤۲۷هـ ش ) حقوق، لومړی چاپ، لاهور: اکرم پریس لاهور.

۵- ګوټمن،روی . اناکاتالدي اوجیلس پریس . جنګي جرمونه .ژباړونکي: نظام الدین کټوازی اوجلات خان حکمتي . دوهم چاپ .کابل:کلید ګروپ. (۲۰۰۷ م)

۶- مبارکپوري،صفي الله . الرحیق المختوم ( سپیڅلی نبوي سیرت ).ژباړونکی: .جانبازسرفراز. دریم چاپ .پېښور: محله جنګي پیشاور. ۲۰۰۸م

# عوامل اساسی رویکرد مجرمانه به جرایم سازمان یافته

ترتیب کننده : پوهیالی خواجه عبدالهادی «صدیقی»

جرم یک ماهیت و پدیده منفور اجتماعی بوده که در درازنای تاریخ همراه با پیدایش بشر قد علم نموده و باعث سر افکنده گی بشر میگردد، به همین ملحوظ برای اینکه این اتوریته نا سزای بشری تحت کنترول در آید، از یک طرف الله متعال (ج) در آخرت پیامد فعالیت های جرمی انسان ها را در متون پاکش بیان نموده و از طرف دیگر به بنده گان نیکو کارش که حاکمیت را در دست خویش دارند دستور داده تا به کسانیکه در روی زمین فساد میکنند و در کل مرتکب جرم میشود به سزای اعمال شان برسانند تا پندی به خود شخص مجرم و عبرت برای دیگر انسان ها باشد، روی همین ملحوظ یکی از نوع جرایم، جرایم سازمان یافته میباشد که اکثرا افراد بنابر دلایل غیر موجه و اکثرا جبر آمیز در قید انسان های منحرف اجتماعی دست میدهند و شکار طعمه شکارچیان انسانیت میگردند، برای بحث بیشتر در ذیل به علل گرایش افراد به این گروه های جرمی بحث مینمایم:

۱- گروهی بودن ارتکاب جرم در جرایم سازمانیافته: در روانشناسی جنایی ثابت شدهاست در صورتی که برای ارتکاب جرمیدسته، گروه و باند وامثال آن وجود داشته باشد، از نظر روانی ارتکاب جرم برای شخص مرتکب آسانتر است؛ و شخص با نگرانی و واهمه کمتری به ارتکاب جرم مبادرت میورزد، زیرا اولاً: افرادی را همانند خود میابد و در ارتکاب جرم همکارانی را دارد که زمینه ارتکاب جرم را فراهم میسازند و او را به اهداف مجرمانه اش نزدیکتر میسازند. ثانیاً: وجود شرکا و معاونان در ارتکاب جرم موجب میشود نقش شخص مرتکب در جرم به هنگام تعقیب و محاکمه کم رنگتر از وقتی باشد که وی آن جرم را به تنهایی انجام میداده است و در نتیجه از نظر روانی شخص مجازات کمتری را در صورت تعقیب و محاکمه برای خود پیش بینی میکند. ثالثاً: با وجود شرکا و معاونان اهداف مجرمانه دست یافتنی تر به نظر میرسد؛ چون با وجود مرتکبان متعدد و طراحی برنامهریزی مناسب، شخص با اعتماد به نفس بیشتری مأموریت مربوطه را انجام میدهد. رابعاً: در چنین حالتی خطر دستگیری، توقیف، تعقیب، محاکمه و پس از آن مجازات، به مراتب کمتر از موقعی است که شخص به صورت فردی و سنتی جرم را انجام میدهد، زیرا همان گونه که گذشت، در جرایم سازمانیافته، گروهی عهدهدار برنامهریزی هستند و به گونهای ارتکاب جرم را طراحی میکنند که احتمال دستگیری و توقیف کمتر باشد و گروهی دیگر به دنبال فاسد سازی مأموران اجرای قانون هستند و در نتیجه زمینه توقیف و تعقیب را از بین میبرند و گروهی دیگر که در واقع مأموریتهای پشتیبانی ارتکاب جرم را دارند با ایجاد عملیات و تهدید و ارعاب، شخص توقیف شده را نجات داده یا مأموران اجرایی و قضایی مرتبط با پرونده را از توقیف، محاکمه، صدور حکم و یا صدور حکم شدید باز میدارند و سرانجام به سبب اینکه جرایم ارتکابی به صورت سازمانیافته منافع اقتصادی قابل توجهی را به همراه دارد، در سطح وسیعتری در جذب افراد بزهکار مؤثر است. در نتیجه، گروهی بودن ارتکاب جرم از یک طرف خطرات ناشی از ارتکاب جرم را کم کرده و از طرف دیگر احتمال دستیابی به منافع قابل توجه را بیشتر میکند.

۲- عدم توازن میان امکانات بازدارنده و امکانات مجرمان سازمانیافته: در بیشتر کشورها امکانات مبارزه با جرم اعم از روشهای پیشگیری از جرایم و ابزار مربوطه سنتی است. این در حالی است که مرتکبان جرایم سازمانیافته در بسیاری از موارد، به ویژه در جرایم فراملی، از امکانات مدرن و پیشرفتهای برخوردارانـد. اگر در گذشته معاهدات میان مجرمان به صورت نوشته محسوس و عینی مبادله میشد و یا مکالمات آنها از راه دور به وسیله تلفن صورت میگرفت که میتوانست استراق سمع شود و در نتیجه همین نوشته ها یا مکالمات میتوانست به عنوان سند ارتکاب جرم توسط پلیس ارایه گردد، امروزه با به کارگیری امکانات جدید و از طریق تجارت الکترونیکی و ارسال نامه با ایمیل (پست الکترونیکی) و امثال آن از سوی مجرمان سازمانیافته فراملی، پلیس توانایی به دست آوردن سند ارتکاب جرم از این طریق را ندارد. از طرف دیگر، به سبب جهانی شدن، باز شدن مرزهای میان کشورها، اقتصاد آزاد و عدم دخالت دولتها در بازار و امثال آن، مجرمان به راحتی از مرزها گذر کرده و خود را از دسترس پلیس داخلی کشور دور نگه میدارند و همین مطلب مشکل تعقیب و دستگیری مرتکبان را دو چندان نمودهاست. علاوه بر موارد یاد شده، امروزه به سبب لزوم مراعات قواعد مربوط به حقوق شهروندان از ناحیه پلیس و دیگر نهادهای پیشگیری کننده و مراعات حق خلوت اشخاص، بسیاری از امور مربوط به جرایم سازمانیافته که در خفا صورت میگیرد، از چشم مأموران پولیس مخفی میماند. در نتیجه، پولیس در بسیاری از موارد ارتکاب جرم سازمانیافته امکان مقابله مستقیم را از دست میدهد. به عبارت دیگر، در حالی که پیشگیری از جرایم سنتی و سرکوب آنها در نتیجه کنترل این جرایم توسط پلیس امری آسان به شمار میآید، امکان کنترل جرایم سازمانیافته توسط پلیس به سبب عدم توازن میان امکانات، بسیار کمتر است.

۳- گسترش موضوعات مجرمانه: امروزه با توسعه دانش و فنآوری، دامنه جرایم به طور قابل توجهی گسترش یافته و این گسترش با توجه به ارتکاب آنها به صورت سازمانیافته و با ابزار جدید، امکان دستگیری و تعقیب مرتکبان را کاهش داده است. اگر در گذشته جرایمی همچون سرقت، کلاهبرداری و جعل در فضای حقیقی و مادی و عینی امکانپذیر بود، امروزه این جرایم و جرایمی از این قبیل، نه فقط در فضای حقیقی بلکه در فضای مجازی هم امکان پذیر شده است. با وارد شدن در سایتهای بانکها و مؤسسات اقتصادی مختلف میتوان مال دیگری را برد و در نتیجه مرتکب کلاهبرداری شد و با ساختن نوشتههای غیر واقعی و انتساب آنها به افراد میتوان ضررهای مادی و معنوی قابل توجهی را بر آنها تحمیل کرد. از طرف دیگر، با تولید سایتهای مختلف پورنوگرافی و ارایه تصاویر مستهجن و دعوت از مشتریان میتوان بازار مالی مجرمانه قابل توجهی را به وجود آورد و فاحشگی را رواج داد و جرایم مختلف غیر قابل کنترلی را در فضاهای مجازی ایجاد کرد. جرایمی از این قبیل که در نتیجه گسترش علم و فنآوری به وجود آمدهاند، غالباً به صورت سازمانیافته ارتکاب میابند، در حالی که امکان دسترسی به مراکز آنها مشکل بوده و در نتیجه درآمدهای مطمئنی را برای مرتکبان آنها بدون هراس از توقیف و تعقیب فراهم میکند.

٤. بالا بودن درآمد فعالیت مجرمانه و کاهش هزینه ارتکاب این فعالیتها: بیشتر مصادیق جرایم سازمانیافته نظیر قاچاق مواد مخدر، قاچاق زنان و کودکان، قاچاق مهاجران، جرایم رایانه ای و امثال اینها با وجود پایین بودن هزینه ارتکاب، به سبب همکاری اعضای باند در ارتکاب آن و توزیع هزینه آن، اعم از هزینه مادی و غیر مادی، در میان مرتکبان، سود سرشاری را نصیب مجرمان میسازد. برای مثال، درآمد حاصل از قاچاق مواد مخدر در سال بیش از پانصد میلیارد دلار تخمین زده میشود که پس از تجارت اسلحه بالاترین درآمد را به خود اختصاص میدهد. موارد دیگر جرایم سازمانیافته نیز به سبب مشتریانی که در بازار دارند، از چنین وضعیتی برخوردارانـد. همین امر موجب ایجاد انگیزه در میان مجرمان برای ارتکاب این جرایم میگردد.

٥. خلأهای قانونی و عدم انطباق قوانین سنتی با جرایم مربوط: به دلیل جدید بودن بسیاری از مصادیق جرایم سازمانیافته و عدم جرم انگاری آنها در قوانین کیفری بسیاری از کشورها، ارتکاب این گونه فعالیتها بدون هزینه و ضمانت اجرای کیفری بوده و مرتکبان با آسودگی خیال آنها را انجام میدهند. برای نمونه، فعالیتهایی از قبیل قاچاق زنان وکودکان، قاچاق اعضای بدن، قاچاق مهاجران، پولشویی، جرایم کامپیوتری، قاچاق مواد هستهای و امثال آنها یا اصلاً جرم انگاری نشده است و یا در صورتی که قانون کیفری خاصی در مورد برخی از آنها وضع شده، بسیار سنتی بوده و ضمانت اجرای کیفری پیش بینی شده نمیتواند از ارتکاب اینگونه جرایم پیشگیری نماید. از طرف دیگر، در مواردی هم که بر اساس قواعد سنتی حقوق کیفری ضمانت اجراهای لازم پیش بینی شده است، در مورد جرایم سازمانیافته این قواعد کارایی لازم را ندارد. برای نمونه، یکی از ویژگیهای جرایم سازمانیافته وجود سلسه مراتب است. در این سلسله مراتب گرچه به ظاهر نقش عینی و کاری از آن مباشران جرم است، اما در واقع رهبران و آمران سازمان جرم را طراحی و هدایت میکنند و نقش فساد آمیز آنان بسیار بیشتر از مباشران است. از نظر قواعد سنتی حقوق جزا، این رهبران و آمران معاون جرم تلقی میشوند و مجازاتشان حداقل مجازاتی است که برای مباشران جرم پیش بینی شده است و این وضعیت در حقوق جزا با فلسفه حقوق جزا که اعمال عدالت و برقراری و تثبیت نظم عمومیاست، سازگار نیست. به سبب حاکمیت این وضعیت، مجرمان حرفهای و متفکر با تشکیل باند مجرمانه و رهبری آن و دور نگه داشتن خود از صحنه عملیات فیزیکی جرم، با قبول کمترین مجازات احتمالی، بیشترین درآمد را از ارتکاب جرم به دست میآورند.

نتیجه گیری: از مباحث فوق هویدا میگردد که جرایم سازمان یافته یک پدیده شوم اجتماعی بوده که افراد جامعه را به خطر حیاتی مواجه ساخته و میسازد، مجریان این پدیده منفور افراد جامعه را با حیله و نیرنگ ها در دام می اندازند و آنها را در قدمه های عضویتی خویش جا میدهند، پس لازم است تا از سربازگیری های این مجرمین با انفاذ قوانین مبارزه علیه جرایم سازمان یافته بشکل نوین در سطح ملی و بین المللی جلوگیری صورت گیرد.

منابع مخذ:

۱- «اسعدی» سید حسن، جرایم سازمان یافته فراملی.

۲- عارفی، حمید الله، لکچرنوت درسی قوماندانی کالج ارتقای ظرفیت پولیس.

۳- دهخدا، لغاتنامه.

٤- معین، لغاتنامه.

# عوامل رشد اقتصادی چین

محب الله «علی خیل «

چکیده :

هدف از تحقیق عوامل رشد اقتصادی چین اینست که در جهان امروزی بازار اقتصاد چین سر زبان ها است و علاقه داشتم که درین مورد دست آورد های جدید کشور چین در بخش اقتصادی را پیدا و به علاقه مندان تقدیم نمایم . برای تحقیق از روش کتابخانه و انترنیتی استفاده شده . در نتیجه این تحقیق دریافتیم که چین یکی از سریع ترین رشد های اقتصادی دنیای را داشته است این کشور هم اکنون بزرگترین صادر کننده و دومین وارد کننده بزرگ کالا و دومین اقتصاد بزرگ دنیا است . بر اساس گذارش خبر گذاری فرانسه صادرات چین در ماه سپتامبر سال ۲۰۱٦ به شکل باور نکردنی افزایش داشته به طوری که در بخشی از بازار های جهانی که هنوز به تسخیر این کشور درنیامده بود نیز تسلیم اقتصاد چین شده اند .

مقدمه:

هدف ازین تحقیق اینست که ارقام جدید رشد اقتصادی چین را جمع اوری نموده و به علاقه مندان تقدیم نمایم . در مورد این موضوع تحقیقاتی صورت گرفته ولی به اساس زمان تفاوت دارد درین تحقیق کوشش شده که از جدید ترین دست آورد های اقتصادی چین و آینکه چرا چین به یک قدرت اقتصادی جهان تبدیل شده است و کدام عوامل سبب رشد سریع اقتصادی چین شده . پاسخ خواهد داد . در مقدمه میخواهیم در مورد موقعیت جیوآکونومیک چین معلومات آرائه کنم .چین کشوری که در شرق قاره اسیا واقع شده و پر جمعیت ترین کشور جهان است یعنی پیش از ۱,۳ ملیارد نفوس دارد توسط حزب کمونیست چین اداره میشود . چین با حدود ۹,٦ کیلو متر مربع سومین کشور جهان و دومین کشور بزرگ دنیا از نظر وسعت خاکی می باشد . تمدن چین باستان یکی از کهن ترین تمدن ها تاریخ است که در سواحل حاصل خیر رود زرد که در دشت شمال چین جاری است شکوفا گردید. نظام سیاسی چین بیشتر از ٦ هزار سال مبتنی بر سلطنت مطلقه مورثی بوده از هنگام اصلاحات اقتصادی در چین برای پی ریزی یک اقتصاد مدرن چین یکی از سریع ترین رشد های اقتصادی دنیایی واحد شده است .این کشور هم اکنون بزرگترین صادر کننده و دومین وارد کننده کالا است و دومین اقتصاد بزرگ دنیاست چین عضو دایم شورای امنیت سازمان ملل و سازمانهای چند جانبه همچون سازمان جهان (اپک) سازمان همکاری شانگهای و کروه ۲۰ است چین به عنوان کشوری دارای سلاح هسته یی از بزرکترین آرتش دایمی دنیا و دومین بودجه دفاعی بزرگ دنیا برخوردار است . چین هم چنین از سوی برخی از دانشگاه ها و تحلیل گراد نظامی , اقتصادی و سیاسی یک آبر قدرت بالقوه دانسته شده است . زبان چینی با ۱۷۰۰۰۰۰۰۰۰ نفر گوینده پرشمار ترین زبان دنیا به شمار میرود .

۱۲ عوامل رشد اقتصادی چین:

۱- در مجموع می‌توان چنین جمع‌بندی کرد که چین سیاست‌های عملگرایانه‌ای برای حفظ ثبات در منطقه، کسب منافع بیشتر اقتصادی و افزایش تأثیرگذاری سیاسی، بدون مصالحه بر سر منافع حیاتی،در پیش گرفته وهمه اینها معطوف به "تداوم توسعه اقتصادی و ثبات سیاسی" است.

- ۲تغییر وضع موجود بین‌المللی را از طریق رعایت قواعد نظم موجود و بازی در درون این قواعد، پیگیری می کند.

-۳جمعیت زیاد و وسعت کشور

-٤ایجاد حدود ۲۰۰۰ منطقه آزاد تجاری با قوانین خاص آن مناطق و بنادر مجهز به بارگیری با حداکثر ظرفیت

-۵ واقع شدن بین دو کشور استراتژیک و ژئواکونومیک روسیه در شمال و هند در جنوب

-٦ واقع شدن در منطقه استراتژیک جنوب و شرق آسیا

-۷واقع شدن بین اقیانوس آرام و اقیانوس هند

-۸به گفته برخی از نظریه پردازان ، در حال حاضر کشورهایی می توانند در جهان مطرح باشند که تکنولوژی برتری نسبت به سایر کشورها داشته باشند و چین چنین پتانسیل و برتری دارد . (رشد شگفت‌انگیز اقتصادی و ثبات سیاسی در چین را می‌توان معلول یک عامل اساسی دانست و آن حصول اجماع نظر میان نخبگان این کشور پیرامون استراتژی کلان چین است که با توجه به درکی واقع‌بینانه از محیط داخلی و بین‌المللی، شرایط را برای بهره‌گیری از پتانسیل‌های داخلی و خارجی در جهت افزایش قدرت ملی فراهم آورده است .

-۹عضویت در سازمانهای مهم بین المللی و منطقه ای مانند سارک و شانگهای و تاثیر گذاری مستقیم در این سازمانها.

-۱۰در حوزه آسیا چین یک رویکرد کم خطر را برای مواجهه با مسائل بین‌المللی اتخاذ کرده است.

-۱۱دسترسی به آبهای آزاد جهان از طریق دریای چین .

-۱۲ همسایگی با یکی از قدرتها و قطبهای اقتصادی جهان یعنی جاپان.

نتیجه :

اقتصاد چین از اواخر دهه هفتاد قرن ۲۰ به تندی تغییر کرده و در حال رشد است. بر اساس برابری قدرت خرید، چین دارای دومین اقتصاد بزرگ جهان و یک بازیگر اصلی در اقتصاد جهانی است. حجم اقتصاد چین ($ ۱۲،۳۸۰،۰۰۰،۰۰۰،۰۰۰ در سال ۲۰۱۲) بلافاصله پس از اتحادیه اروپا و آمریکا یعنی در مقام سوم در جهان قرار می‌گیرد. چنانچه رشد کنونی اقتصادی چین همچنان ادامه یابد، چین از نظر اقتصادی، در حال رسیدن به آمریکا یعنی بزرگ‌ترین اقتصاد جهان است. صنایع اصلی چین بسیار گسترده و شامل محصولات آهن و استیل، زغال سنگ، ماشین آلات، نفت و پتروشیمی، اسباب بازی،کفش و لوازم الکترونیکی است. برنج، گندم، سیب زمینی، ذرت، بادام زمینی، چای، ارزن، جو، کتان، ماهی و خوک فراورده‌های اصلی کشاورزی هستند. صادرات عمده چین ماشین آلات، پوشاک، کفش، اسباب بازی، سوخت معدنی، مواد شیمیایی و واردات آن ماشین آلات، مواد شیمیایی، آهن و استیل است.

بانک جهانی، وضعیت اقتصادی چین را مطلوب و محیط اقتصاد کلان این کشور را با ثبات توصیف کرده‌است. بانک جهانی آمار جدید را یک پیشرفت عمده توصیف کرده‌است با وجود افزایش میزان تولید ناخالص داخلی، نرخ سرانه تولید اقتصادی هنوز بسیار پایین است و برای اینکه چین به سطح کشورهای توسعه یافته برسد هنوز راه زیادی را باید طی کند.

کشورچین درحال رقابت باامریکا است درهرعرصه هم ازنگاه نظامی وهم ازنگاه اقتصادی میخواهدازکشورهای بزرگ مانند امریکا وهندسبقت نماید ومسله تایوان نیزیکی ازاهداف عمده چین است که نمی خواهدبه هیچ قیمت انرا ازدست دهد وموضوع دیگر درموردمسلمانان ایغوراست که درسطح جهانی درقسمت نقذحقوق بشر تحت فشار قراردارد.

کشورچین علاقه مندی خاص برای سرمایه گذاری درکشورعزیزما افغانستان است درطول تاریخ کشورچین کمک های بلاعوض درکشورمانموده است دربخش قراردادها وبازگشایی را سابقه ابریشم ساخت خط ریل اهن درمرزواخان دراقتصادکشوررول بسزای داردامیداست دربخش استخراج معادن کشورازتکنالوژی وفناوری کشورچین استفاده درست نمایم .

منابع :

۱. سایت انترنتی ویکی پیدیا چین

۲. کتاب ( تاریخ سیاسی جهان )

## عزل

**حضرت‌مولانا**

زان که نه‌ای طالب جوینده شوی با ما
ور زان که نه‌ای مطرب گوینده شوی با ما
گر زان که تو قارونی در عشق شوی مفلس
ور زان که خداوندی هم بنده شوی با ما
یک شمع از این مجلس صد شمع بگیراند
گر مرده‌ای ور زنده هم زنده شوی با ما
پاهای تو بگشاید روشن به تو بنماید
تا تو همه تن چون گل در خنده شوی با ما
در ژنده درآ یک دم تا زنده دلان بینی
اطلس به دراندازی در ژنده شوی با ما
چون دانه شد افکنده بررست و درختی شد
این رمز چو دریابی افکنده شوی با ما
شمس الحق تبریزی با غنچه دل گوید
چون باز شود چشمت بیننده شوی با ما

## غزل

**درویش دراني**

رښتیا هم وایم، خوشالي د ملت هم غواړمه
عجب ساده یمه لا سر سلامت هم غواړمه
که ستوری نه یم د اسمان تمنا هم نه کوم
که یم ګلاب نو بیا د خاورو قربت هم غواړمه
د تورو سترګو په خبره دي ښه وپوهېدم
خو د سرو شونډو له جانبه دي ست هم غواړمه
زه چي راغلی ومه، تا ته مي سپارلی و زړه
نن زه هم ځم او هغه خپل امانت هم غواړمه
په سترګو خوند، په ګوتو درد راټولوم درویشه
ګل ته که ځم نو د اغزي نزدېکت هم غواړمه

## غزل

**درویش**

له ما ګوښه دي له ما ډېر لري ودان دي خلك
زه توري خاوري یم او ستوري د اسمان دي خلك
زه وم یو زخم، ځکه مالګي دوړولې هر چا
زه یم یو ګل، ځکه ملګري د خزان دي خلك
د چا تر سر تېر شه اشنا چي دروازه جوړه شي
لکه دېوال ولاړ زما او ستا تر میان دي خلك
زړونه یې وګوره چي تور نه وي د کفر په شان
مخ ته یې مه ګوره چي سپین لکه ایمان دي خلك
تر څو چي وړې وي درویشه نو دوستي یې ښه ده
پر خزانه باندي چي کښیني تور ماران دي خلك

# اصول استراتیژی از نظر اسلام

**پوهیالی محمد ظریف سرکی خیل**

مقدمه

پس از هجرت پیامبر اکرم (ص) و تشکیل جامعه اسلامی در مدینه تا پایان عمر آن حضرت جنگهای متعددی میان مسلمانان و کفار رخ داد. اصولاً در جامعه اسلامی شخص پیامبر (ص) به عنوان رهبر جامعه سیاست کامل یا جامع را بر اساس اهداف قرآن و وحی الهی تنظیم می کرد. هدف کلی، گسترش اسلام و خیر و صلاح و بازداشتن از کفر، فساد و زشتی¬ها بود و طبعیتاً تنها ابزار نیل به این اهداف، ابزار نظامی نبوده و در کنار آن از ابزار فرهنگی، اقتصادی، سیاسی و استراتیژیک استفاده می-شد. درین مقاله در ابتدأ در رابطه به مفهوم استراتیژی و سپس به توضیح اصول استراتیژیک که در زمان حیات پیامبر اکرم مورد استفاده قرار می¬پردازیم.

۱. مفهوم استراتیژی: استراتیژی در وهلهٔ نخست، پیش از آنکه واژه سیاسی تلقی شود، اصطلاحی نظامی به نظر می¬رسد. استرتیژی از ریشه یونانی strategema است که خود از واژه strategos به معنای جنرال قوا مشتق شده است. Stratos به معنای قوا و ago به معنای هدایت است بنابراین کلمه مزبور به معنای هدایت قوا می¬باشد.

در مجموع در سطح نظامی، استراتیژی را هنر و علم به کارگیری منابع در جنگ در راستای تأمین بیشترین حمایت از سیاست ملی در جهت افزایش احتمال نیل به پیروزی و پیامدهای مساعد آن تعریف می کنند.

۱. اصول استراتیژی در اسلام: از متن قرآن مجید و سنت پیامبر (ص) می¬توان به اصول استراتیژیک دست یافت که هم اکنون نیز مورد تأیید بسیاری از استراتیژیست¬هاست و در استراتیژی ملی کشورهای مختلف به کار گرفته می¬شود.

۱-۱. افزایش قدرت نظامی در زمان صلح و جنگ: خداوند (ج) می¬فرماید: (واعدوالهم ماستطعتم من قوه و من رباط¬الخیل) در معنای قوه، به تهیهٔ تیر و کمان و شمشیر و سلاح یا کست مهارت در تیر اندازی اشاره شده است. اما کلمه (قوه) به طور کلی به معنای نیرو و در عین حال کسب مهارت است؛ این نیرو می تواند در اوضاع و احوال متفاوت زمانی و مکانی، معانی و مفاهیم مختلفی بیابد و به نوع خاصی از ابزار¬های نظامی محدود نمی¬شود و در عین حال مهارت در کاربرد این نیرو ضروری است. (رباط¬الخیل) را بهترین وسیله نقلیه معنا می¬کنند که در زمان نزول قرآن اسبهای نیرومند را شامل می¬شده است ولی می-تواند در زمانهای مختلف و بنا به ضروریات زمانی به هر نوع وسیلهٔ سریع¬السیر معنا گردد.

۱-۲. بازدارندگی: در ادامه آیه فوق چنین آمده است: (ترهبون به عدوالله و عدوکم) در اینجا هدف از فراهم آوردن تیر و تجهیزات و سلاح و ادوات، شکست یا تسلیم دشمن ذکر نشده است بلکه نیل به بازدارندگی منظور بوده است: دشمنان خدا و دشمنان خود را بترسانید تا از تجاوز باز بمانند. این نکته¬ای است که در استراتیژی های قدرت های بزرگ خصوصاً بعد از جنگ جهانی دوم بر آن تأکید شده است.

۱-۳. ترجیح صلح در موارد ممکن در تاریخ اسلام با غزوات متعددی رو¬ برو می¬شویم که هیچ درگیری نظام در آنها رخ نداده است. برای مثال، صلح حدیبیه در سال ششم هجرت نشان دهندهٔ وضعیتی است که در آن دادن امتیاز موقت برای استفاده از موقعیت بهتر رزمی و در عین حال کسب امتیاز متقابل (به رسمیت شناخته شدن جامعه اسلامی) ترجیح داده می¬شود و با فراهم آمدن اوضاع و احوال مناسب، اقدام برای پیروزی جنگی بدون استفاده گسترده از نیروی نظامی برای فتح مکه صورت می¬ گیرد.

۱-۴. ضرر به قدرت اقتصادی دشمن: در بسیاری از غزوات تاریخ اسلام از جمله در ذات الرقاع شاهد هستیم که هدف مسلمانان ضربه به نفرات دشمن نبوده است بلکه می¬خواسته¬اند قدرت اقتصادی طرف مقابل را مورد هجوم قرار دهند و تضعیف کنند.

۱-۵. فریب دشمن: استفاده از تاکتیک¬های در جهت فریب دشمن برای زیاد نشان دادن قدرت نیروهای خودی و یا پنهان ساختن اهداف واقعی در تاریخ غزوات اسلام دیده می¬شود که از جمله میتوان به تغییر چهرهٔ نفرات خودی به نحوی که دشمن تحت تأثیر قرار گیرد، اشاره کرد. در مواردی از اصحاب خواسته می¬شد با رنگ کردن مو و محاسن خود چهرهٔ جوانان را بیابند تا دشمن بیش از بیش از آنان بهراسد. در ماه رجب سال دوم هجرت پیامبر اسلام گروهی را به فرماندهی عبدالله بن جحش به نخله فرستاد تا در کمین کاروان قریش باشند. تعدادی از افراد این گروه با تراشیدن سرخود جنین وانمود کردند که عازم عمره هستند و به این ترتیب توانستند دشمن را غافلگیر کنند.

۱-۶. ایجاد تفرقه در صفوف دشمن: در جنگ خندق یا احزاب سپاه اسلام باید با اتحاد یا ائتلافی از گروهای مختلف روبه¬رو می¬شد. در چنین شرایط ایجاد تفرقه در اتحاد دشمنان از اصول ضروری جنگ است. در این راستا پیامبر (ص) کوشید روابط یهودیان بنی قریظه با مشرکان مکه را تیره سازد و با بدبین کردن آنان نسبت به یکدیگر و بی¬اعتماد ساختن بنی¬قریظه به دوام اتحاد نظامی شان با کفار مکه در آنها تزلزلی ایجاد کند. یکی از افراد قبایل بیابان گرد که با بنی قریظه دوست بود، اسلام آورد اما کسی از مسلمان شدن او آگاه نبود. و مامور شد ولو با گفتن دورغهای مصلحت¬آمیز بنی قریظه را نسبت به قریش بدبین کند و در عین حال نزد قریش و به آنان هشدار داد که بنی¬قریظه در صدد خیانت به ائتلاف خود با آنها هستند. به این ترتیب متحدان از خیانت طرف مقابل بیمناک شدند و از اتحاد صفوف دشمن جلوگیری شد.

نتیجه‌گیری

مسئله آمادگی و تجهیز نظامی در برابر دشمنان از توصیه های اکید آموزه های اسلامی است. به طور ویژه آیه ۶۰ سوره انفال یک اصل حیاتی و ضروری را برای مسلمانان ترسیم نموده که باید در هر عصر و زمان، مورد توجه و اهتمام مسلمانان قرار گیرد و آن لزوم آمادگی کافی و مجهز شدن به سلاحها و تجهیزات مناسب روز در تمامی زمینه ها در برابر دشمنان است. به همین دلیل خداوند(ج) فرموده آنچه برای جنگیدن و دفاع لازم است را تهیه کنید، که این آمادگی از برنامه¬ریزی گرفته تا مسائل بازدارندگی و مسائل مقابله به مثل تا استراتیژی ها و پیمان های دفاعی را در برمی¬گیرد.

منابع

۱. قرآن کریم.
۲. ازعندی، علیرضا، مسائل نظامی و استراتیژی معاصر، تهران: سازمان مطاله و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاه سمت، مرکز تحقیق و توسعه علوم انسانی، ۱۳۹۴.
۳. مدنی، جلال¬الدین، خلع سلاح و سازمان ملل متحد، تهران: انتشارات خواندینها، ۱۳۵۲.

# بهرته د افغاني غالیو په صادراتو کې زیاتوالی راغلی

**شاه محمود درویش**

افغانستان اوسمهال بهرنیو هېوادونو ته په ډېره پیمانه صادرات لري، له نېکه مرغه په وروستیو څلورو میاشتو کې د غالیو په صادراتو کې ۳۰ سلنه زیاتوالی راغلی دی. د ځینو رپوټونو په حواله د روان کال له وري تر چنګاښ میاشتې پورې د څه باندې ۷ میلیونه ډالرو په ارزښت غالۍ، ترکیې، امریکا، متحده عربي اماراتو، ایټالیا او ازبیکستان ته صادرې شوې دي. له هېواده بهر د غالیو په صادراتو کې د زیاتوالي خبر د قدر وړ دی، پاک الله«ج» دې افغانانو ته نور هم دا توفیق ورکړي چې افغانستان په مختلفو برخو کې د تولیداتو ورټیا پیداکړي.

افغاني غالۍ چې په نړۍ کې ساری نه لري او د غالۍ اوبدلو صنعت یې ډېره اوږده مخینه لري، چې اوس هم په نړیوالو بازارونو کې افغاني غالۍ ښه نوم او مارکېټ لري، چې په دې اړه د اسلامي امارت اړوند مسوولینو دغالیو د تولید زیاتوالي او د نړۍ په کچه د غالیو د بیې او ارزښت د لوړوالي خبر ورکړی، چې په افغانستان کې جوړې شوې غالۍ د نړۍ مختلفو هیوادونو ته صادرېږي، ځکه زموږ غالۍ په نړۍ کې ساری نه لري او ګڼ شمېر بهرنیان یې د کیفیت له پلوه ډېرې خوښوي.داچې افغاني غالیو اوس نړیوال شهرت پیدا کړی، نو اړینه ده چې د افغانستان اسلامي امارت د سوداګرۍ او صنایعو وزارت د چارواکو ترڅنګ ګڼ شمېر خیریه موسسې او بنسټونه د هیواد د غالۍ اوبدونکو د ستونزو د حل لپاره لازمې مرستې وکړي، ترڅو په دې برخه کې دوی ته په ښه توګه آسانتیاوې برابرې شي یعنې نوې د غالۍ اوبدلو تخنیکي وسایل د دوی په واک کې ورکړي او دوی په دې وتوانېږي چې دغه ښکلی صنعت لا هم په ښکلو ښکلو ډیزاینونو او نویو بڼو خپلو کورنیو او بهرنیو مینه والو ته وړاندې کړي.

بناءً پاک الله(ج) دې وکړي چې د اسلامي امارت اړونده مراجع د هېواد د غالۍ اوبدونکو د نوموړي صنعت د ودې او پراختیا په برخه کې سربېره پردې چې خپلې هېڅ راز مرستې ونه سپموي، بلکې د نورو خیریه موسسو، بنسټونو او په ټوله کې د قدرمنو پانګوالو هر اړخیزې پانګونې او همکاري هم راجلب کړي ترڅو په مرسته یې د تل لپاره زموږ د هیواد دغه ښکلی صنعت په نړیواله کچه په مختلفو نندارتونونو کې لومړی مقام ولري او په دې توګه له دې پلوه هم زموږ د هیوادوالو اقتصاد وده او پرمختګ وکړي او ورځ تر بلې لا هم غښتلی او پیاوړی شي.

# طنز: چالاک قاتل

**ژباړه: عابد الله سمسور**

بسترې ته رواني۸۱کلنې مېرمنې خپل۸۳کلن خاوند ته وویل: اورې!؟ ما چې له کړکۍ بهر وکتل؛ نو د انګړ څراغ مې روښانه ولید، ته یې بندولی شې؟ خاوند په ډېر مشکل له بسترې را پورته شو. دروازه یې چې پرانیسته ګوري، چې انګړ کې څو تنه د ګاراج (د موټر دروني ځای) دروازې پسې نښتي او غواړي قلف یې مات کړي.

سړي ژر د پولیسو ماموریت ته زنګ وواهه:

ــ زما ادرس ولیکئ! موږ په ټول کور کې یوازې دوه زاړه ښځه او خاوند پاتې یو او ۵ غله مو کور ته راغلي. ژر د پولیسو ډله را ولېږئ.

دوهم لور ته د پولیسو مشر وویل: موږ ستاسې ادرس ولیکه، بې غمه اوسئ، اوس کوم پولیس فارغ نه دی؛ څو شنګه مې چې کومې ډلې سره اړیکه ونیوله در به شي.

سړی ناهیلی خونې ته ستون شو؛ له لنډ سوچ وروسته یې پولیسو ته بیا زنګ وواهه:

ــ اورې صاحبه!؟ اوس د چا رالېږلو ته اړتیا نشته، ما د ۵ واړو غلو سینې په مرمیو غلبېل کړې.

د پولیسو د مشر له لاسه تلیفون وغورځېده، په ټول ماموریت کې شور ماشور شو. ۵ دقیقو کې د پولیسو دوه ایمبولنسونه، درې ډاکټران او څو پولیس په کوڅه کې را ننوتل. ژر یې غله ونیول او بیا په غوسه غوسه د بوډا سړي کوټې ته ورننوتل. د پولیسو مشر ورته وویل: تا خو وویل چې ۵ واړه مې ووژل.

بوډا وخندل: مګر تاسې خو هم وویل چې هیڅ پولیس اوزګار نه دی.

## سیمه ییز مسؤلین مکلف دي چې د خلکو ستونزې ...

د اسلامي امارت له مشـرتابه څخه غوښتنه وکړه، چې د بېلابېلو ولایتونو په لرې پرتو سـیمو کې د پراختیایي پروژو په تطبیق سـره ښوونې او روزنې، د اوبو بندونو جوړولو او خلکو ته د کار موندنـې برخو ته ځانګړې پاملرنه وکړي. په ورته وخت کې د ریاست الوزار اداري مرستیال مولوي عبدالسـلام حنفي په یاده کتنه کې وویل چې اسـلامي امـارت د زرګونـو مجاهدینو د مېړانې او د افغانسـتان د مجاهــد پروره خلکــو د زحمتونو او سرښـندنو په پایله کې بیا واکمني ترلاســه کړې ده.د ریاســت الوزرا اداري مرســتیال یادو دیني عالمانو او سـیمه ییزو مسوولنیو ته ډاډ ورکړ، چې اسـلامي امارت به د خپلو امکاناتو په پام کې نیولو ســره د هېواد په ټولو ولایتونــو کې د پراختیایي پروژو د تطبیق، د اوبو بندونو جوړولو، ښــوونې او روزنې او کاري فرصتونــو د رامنځتــه کولو پــه برخو کې هڅې وکړي.

## ازبیکستان له افغانستان سره د هر اړخیزې ...

او خوراکي توکو په برخه کې د همکارۍ لېوالتیا ښـودلې، چې د دې دوه ورځني سفر په اوږدو کې به پرې هر اړخیزې خبرې اترې وشــي. په پام کــې ده چــې د دواړو هېوادنو حکومتي او د خصوصي ســکتورونو سوداګریز استازي یو لړ خپلمنځي ناســتې ترسره کړي او د ســوداګریزو اړیکو څرنګوالی او پرمختګ و ارزوي.

## حکومت د عصري او دیني زده کړو تر منځ ...

بللی او د حکومــت د بریا راز یې د ولس او چارواکو ترمنــځ اتحاد یاد کړی.شــیخ ندامحمــد ندیم ویلي چې د اســلامي او عصــري زده کړو ترمنــځ واټن له منځه وړي او په دغــې برخه کې یې جدي کار پیل او په دواړو برخو کې یــې زده کړې د هېواد د ابادۍ لپاره اړینې بللې دي. د اســلامي امارت دغه لوړ لوړ پوړي چاروکــي په تېر شــل کلــن جهاد کــې د روزګان د خلکو سرښــندنې ســتایلي او ډاډ یــې ورکړی، چې د دغه ولایــت د پرمختګ لپاره به ځانګــړې پاملرنه وکړي.

## ترکي پانګوالو په افغانستان کې پانګونې ...

وکــړي. نوموړی وایــي، په پام کې ده چــې د روان کال د ســپتمبر په ۱۸مه ترکیه کې یو نندارتون هم پرانیستل شي، چې افغان ســوداګر به هم پکې ګډون وکړي. د سوداګرۍ او پانګونې خونې د مدیره پلاوي غړی خانجان الکوزی بیا وایي، د افغانســتان او ترکیې تر منځ د راکړې ورکړې د ودې لپاره باید، د دواړو هېوادونو تر منځ ګډه ســوداګریزه خونه جوړه شي او د هوایي دهلېزونو له لارې پروازونه پیل شي. د صنعت او سوداګرۍ وزارت د معلوماتو له مخې د ۱٤۰۲ هجري لمریز کال په لومړیو څلورو میاشتو کې د افغانستان او ترکیــې تر منځ د راکړې ورکړې کچه ۲۸ میلیونه ډالرو ته رسېږي، چې یوازې پنځه میلیونه ډالره یې له صادراتو لاس ته راځي.

## هېوادوال دې د غربي تبلیغاتو پر وړاندې ...

قومي مشرانو، اسلامي نظام د الله ج له لوري پیرزوینه بللې او د هزاره قومونو په اســتازیتوب یې د اســلامي امــارت څخه ملاتړ او د هــر راز همکاریو ډاډ څرګند کړی.مفتي شــفیع الله ثاقب د اســلامي ارشاداتو پر بنا ګډونوال یووالي او یو بــل منلو ته را بللي او راغلیو مشرانو څخه یې غوښتنه کړې، چې د غرب د تبلیغاتو پر وړاندې دې فکري مبارزه وکړي او خپل ځوانان دې د هېواد ښېرازه کولو مبارزې او کوښښ ته وهڅوي.

## له پاکستانه څه باندې ۸۰۰ افغان کډوال ...

وړاندې د کډوالو چــارو وزارت ویلي وو، چې د نوي کال په لومړۍ نېټــه ۲۵۸۹ افغان کډوال له ایران څخه هېواد ته راستانه شوي دي.له دې جملې څخه ۱۰۶۲ تنه د مهاجرت د نړیوال سازمان دفتر ته د مرســتو د ترلاسه کولو په موخه ور وپېژندل شــول او پر هغوی د خوراکي او غیر خوراکي توکو مرستې وویشل شوې.د کډوالو او راستنیدونکو چارو وزارت د شــمیرو له مخې په تېرو څو ورځو کې هیواد ته د افغان کډوالو په ځانګړې توګه له ایران او پاکســتان څخه د راستنیدونکو شمیر زیات شوی دی.

## ده ها جادوگر و تعویذ نویس در مرکز و ولایات بازداشت ...

ویدیویــی از ابزارهای این فــرد از جمله مهره‌ها، کتاب‌ها و وســایلی که ظاهرا این فالگیر و تعویذ نویس از آن استفاده می‌کرده نیز منتشر شده است. وزارت امر به معروف و نهی از منکر امارت اسلامی گفته: جادوگری، ســحر و فال‌بینی از نظر شریعت اســلامی حــرام مطلق اســت و از جمله منکرات بزرگ به‌حســاب می‌آید و سبب افزایش خرافات در جامعه اسلامی می‌شود. مسئولان این وزارتخانه گفته که این کار به تجارت برای برخی مبدل شده بود.

## د بغلان اوبو رسولو اداري عواید ۴ میلیونه ...

کړه:« موږ ژمن یو چې په هغو سیمو کې شبکې جوړې کړو چې پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري او د کرکرسیمې په ګډون د یوشمېر نورو سیمو د سروې چارې بشپړې شوې، کله چې موږ ته بودجه برابره شي عملي چارې یې پیلوو.»

## مشهور جهادي مرکزونه به د مستند ...

د ســیمې اوســیدونکو تــه ویلــي، چــې ستاســې شــته ســتونزې او اړتیــاوې بــه لــه اړونــدو مســولینو ســره د حــل پــه موخــه شــریکې کړو.

## افغانستان کې د روغتیایي اړتیاو پوره ...

په ورته وخت کې د افغانســتان لپــاره یو درې کلن پلان جوړ کړی دی، چې د درې کلونو لپاره دوه اعشاریه څلور میلیارډه ډالر مرستې راغونډې کړي، خو تر دې دمه د دې مرستو په اړه ژمنه نه ده ورسره شوې.

## د خبریالانو په مسلکي روزنه ټینګار ...

ویلي، چې د نشــه‌یي توکــو مخنیوي، ملي ارزښــتونو خوندیتوب او هرډول فســاد پر وړاندې د مبارزې په برخه کې ګټور پیغامونه ترخلګو رسولي دي اوهمداراز یې زیاته کړې، چې د دې تلویزیون ټول کاري پرســونل مســلکي دي، چــې د پخوا پــه پرتله زیاتوالی پکــې راغلی.قاري محمد یوسف احمدي د هلمند راډیو تلویزیون کارکونکو هڅې ســتایلي او د هلمنــد تلویزیون لــه آمر څخه یې غوښتې، چې په خپلو نشراتي او عامه پوهاوی پروګرامونو کې لا ډېر څه تر ولســونو پورې ورسوي ترڅو هېوادوال د خپلو مسولینو سره لا نږدې شي. ښاغلي احمدي د هلمند تلویزیون لــه امر څخه مننه کړې، چې هېواد والو ته ګټور نشــرات وړاندې کوي او دغه راز یې د یــاد تلویزیون آمر ته د خبریالانو په مســلکي روزنه کې د پوره همکارۍ ډاډ ورکړی.

# کار اعمار یک سربند در ولسوالی چهار آسیاب کابل آغاز شد

کار ســاخت یــک سربنــد در ســاحه قلعــه عمــرا خــان ولســوالی چهــار آســیاب آغــاز شــد. دفتــر مطبوعاتــی وزارت زراعــت آبیــاری و مالــداری دیروز با نــشر این خبر گفته اســت: ایــن سربنــد بــا هزینــه هفــت هــزار و پنجصــد دالر از ســوی ریاســت زراعــت، آبیــاری و مالــداری ولایــت کابــل ســاخته میشود.

# آغاز کارساختمان تیاتر هرات



مسـئولان ریاسـت اطلاعات و فرهنـگ هرات از آغـاز کار اعمار ساختمان تئاتر این ولایت خبر دادند. مولانا نعیم‌الحق حقانی، رئیس اطلاعات وفرهنگ هرات می‌گوید کار اعمار ساختمان تئاتر از سوی ریاست شاروالی هرات پیش برده میشود. مولانا حقانی می‌گوید، که با اعمار این ساختمان، مشـکلات هنرمندان در بخش مکان اجرای نمایشات برطرف خواهد شد. حقانی علاوه کرد که با اعمار ساختمان معیـاری تئاتر برای هنرمندان، باید اتحادیه هنرمندان نیز در آن ولایت تشـکیل شـود تا تمامی هنرمندان زیر چتر اتحادیـه فعالیت کنند. هنرمندان تئاتر هرات ، از آغاز کار سـاخت ساختمان تئاتر، استقبال کردند. تئاتر هرات سابقه ی یک قرن فعالیت دارد٬ اما نبود ساختمان از سـال‌ها بدینسـو از جمله چالش‌های جدی در برابر فعالیت‌های هنرمندان تئاتر هرات عنوان شده است.

# ۳۱ عراده وسایط نظامی از سوی وزارت دفاع ملی ترمیم شدند



سـی یک عراده واسـطه نظامی غیر فعال از سسـوی تیم تخنیکی وزارت دفاع ملی ترمیم و برای اسـتفاده آماده سـاخته شـد.دفتر مطبوعاتی وزارت دفاع ملی با نتشر این خبر گفته است. تیم تخنیکی قول اردوی ۲۰۳ منصوری، ۳۱ عراده وسایط نظامی را ترمیم کرد. این وسـایط: شـامل ۲۲ عراده تانک هاموی، ۵ عـراده موتر نوع انترنیشـنل و ٤ عراده رنجر می باشـد.این در حالی ست که قبل از این شماری زیادی وسایط غیر فعال و تخریب شده توسط منسوبین مسلکی این لوا ترمیم و برای استفاده آماده شدند.

# افغانستان د داخلي بې ځایه شویو کډوالو له امله نړۍ کې دوهم راغلی



د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام په خپل تازه راپور کې لیکلي چې افغانستان له ســوریې وروسته د ۶٫۵۵ مېلیونه داخلي بې ځایه شویو په لرلو سره د نړۍ په کچه دویم ځای لري. د دغه راپور پر بنسټ په افغانستان کې بې‌ځایه شوي د طبیعي پېښــو او ځینې نورو لاملونو له امله کډې کولو ته اړ شــوي دي. د ملګرو ملتونــو د پراختیایي پروګرام په دغه راپور کــې همدارنګه تر راتلونکو ۳۰ کلونو په ټوله نــړۍ کې د بې‌ځایه کېدو د احتمال د زیاتوالي په هکله هم خبرداری ورکړل شوی دی. تر دې مخکې، د کډوالۍ نړۍ‌وال سازمان؛ یا ای او ایم، په افغانستان کې د بې ځایه شویو کسانو د شمېر له زیاتېدو خبر ورکړی او ویلي یې و چې دمګړۍ په دې هېواد کې د بې ځایه شــویو شــمېر شاوخوا ۶ مېلیونو ته رسېږي.

### د روغتیا نړیوال سازمان:

# افغانستان کې د پولیو ۳۲ مثبتې پېښې ثبت شوې

د روغتیــا نړیوال ســازمان په خپل تــازه راپور کې ویلــی چې په ۲۰۲۳ کال کې په افغانســتان کې د پولیو ۳۲ مثبتې پېښــې ثبت شوی دی.د دغه ســازمان د ۳۶ مې راپور پر بنسټ، دغه ټولې پېښې د افغانستان په ختیځو ســیمو کې، یوه پېښه په ســوېل کې او بله پېښه په بلخ کې ثبت شوې ده.د ماشــومانو د ګــوزڼ یا فلج ناروغــۍ د څېړنې د بېړنــۍ کمېټې د غونډې راپور ښــیي چې د روان کال د اپرېل له ۱۲مې د مې تر ۱۸مې په ننګرهار ولایت کې د پولیو پنځه پېښــې ثبت شــوې دي.دغه ســازمان خبرداری ورکــړی چې په کندهار کې د کور په کور د کمپاینونو په محدودېدو ســره په دغه ولایت کې ماشــومان د دغې ناروغۍ د پراخــې خپرېدو له جدي خطر سره مخ دي.

## د هوساینې لپاره عملي ګامونه پورته ...

کلنــې جګــړې تــر څنــګ د غلیــم هــرې دسیســې تــه مناســب ځــواب ویلــی، اوس هــم د اشــغالګرو د نــاوړه چلنــد پــه مقابــل کــې مناســب ځــواب ورکــوي او پــه زړورتیــا ســره د هغــو ســتونزو د رغاونــې لپــاره ګام پورتــه کــوي چــې د هېوادوالــو د هوســاینې پــر وړانــدې خنــډ ګرځــي. همــدا اوس اســلامي امــارت پــه ډېــره لــږه مــوده کــې د چــارو د ســمون لپــاره کوټلــي ګامونــه پورتــه کــړي او لــه خلکــو ســره د مســؤلینو پــه لیــدو کتــو کــې د هغــو ســتونزو د رغاونــې لپــاره لاره لټــول کېږي،چــې د هېوادوالــو د اندېښــنو وړ دي. هېــوادوال بایــد ومنــي چــې اشــغالګر او د هغــوی ګوډاګیــان چــې پــه جګــړه کــې یــې خپلــې ګټــې لټولــي پــه قــرار نــه دي ناســت، بلکــې هڅــه کــوي چــې د اســلامي امــارت پــر وړانــدې د نړیوالــو ذهــن ګــډوډ کــړي ترڅــو د خپلــو بادارانــو پــه وســیله د اســلامي امــارت د دیپلوماتیکــو اړیکــو د رامنځتــه کېــدو د مخنیــوي لپــاره منفــي تبلیغــات پــه لاره واچــوي او پــه افغانســتان کــې اوســنی ســوله ییــزه فضــا یــو ځــل بیــا لــه نــا امنیــو ســره مخامــخ کــړي. خــو مافیایــي کــړۍ چــې پــه خلکــو کــې ځــای نــه لــري د هــرې ورځــې پــه تیرېــدو ســره د دوی جنایتونــه راســپړل کېــږي او هیــوادوال یــې د اســلامي امــارت څخــه د محاکمــې غوښــتنه کــوي ځکــه پــه بهــر کــې میشــتې دسیســه جوړوونکــې کــړۍ چــې د هېــواد پــه ملــي شــتمنیو یــې خېټــې پړســولې پرتــه لــه دې چــې د اســلامي امــارت د وروړکلویــزې غېــږې ګټــه پورتــه کــړي بیــا هــم پــه دسیســو بوخــت دي چــې هېــڅ وخــت بــه د اســلامي امــارت پــه شــتون کــې برلاســي نــه شــي او ډېــر ژر بــه د خپلــو نــاوړه اعمالــو په ســزا ورســېږي ځکــه د هېــواد اصیــل بچیــان چــې د اشــغالګرو او د هغــوی د ګوډاګیانــو پــه مقابــل کــې یــې خپــل ســرونه نذرانــه کــړي هېــڅ وخــت بــه هغــه څــوک پــرې نــږدي چــې هېــواد یــو ځــل بیــا د اشــغالګرو پــه واک کــې ورکــړي اوس افغانانــو د اســلامي امــارت د مېړنیــو مجاهدینــو پــه وســیله د آزادۍ او خپلواکــۍ د ترلاســه کولــو لــه املــه امنیــت تامیــن کــړی، چــې لــه املــه یــې هېــوادوال د هېــواد پــه ګــوټ ګــوټ کــې د هوســاینې ژونــد پرمــخ وړي او د خپــل اســلامي امــارت څخــه د ســر پــه بدلــه دفــاع کــوي.

## د کابینې په غونډه کې د برښنا د بیو ...

اړوند له مرکزي دارالافتاء ګمارل شوی دی. دې ناسته کې همدارنګه د کلیو بیا رغونې او پراختیا سرپرســت وزیر په مشرۍ د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ، ملي دفاع او کورنیو چارو وزارتونو او اســتخباراتو لوی ریاســت اســتازیو په ګډون پلاوي ته، په تېره اداره کې د امنیتي پوســتو او ښــونو لپاره نیول شویو شخصي یا امارتي ځمکو اړوند دنده وسپارل شوه، چې په تفصیلي راپور کې یې تفکیک، په نښه او د تصمیم لپاره کابینې ته وړاندې کړي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
M. Ebrahim Nabil ، Director of Gov.dailies
0782080666
Chief Editor : Farooq Ghaljai/ 0778635852
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د لیکوال هیئت تر نظر لاندې
د دولتي ورځپاڼو عمومي رئیس:
م محمد ابراهیم نبیل ۰۷۸۲۰۸۰۶۶۶
مسؤل مدیر: فاروق غلجی/ ۰۷۷۸۶۳۵۸۵۲
د شریعت برېښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: د بهرنیو چارو وزارت ته مخامخ - د اطلاعاتو او کلتور وزارت نوې ودانۍ
شماره توزیع و شکایات: ۰۷۷۶۷۸۸۴۴۷ / ۰۷۹۳۵۳۱۵۱۳

Sunday 27 August 2023 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 250


فراهي:

# مشهور جهادي مرکزونه به د مستند تاریخ په شکل راتلونکي نسل ته وړاندې کړو

د اطلاعاتو او کلتور وزارت نشـراتي مرسـتیال مولوي حیات الله مهاجر فراهـي او د لـوړو زده کـړو وزارت علمي مرسـتیال مولـوي لطف الله خیرخواه د تورې بـورې له جهادي مرکزونو څخه لیدنه کړې.د اطلاعاتو او کلتور وزارت د نشـراتو مرسـتیال ویلي؛ توره بوره د تاریخي ارزښت له نظره یوه سـیاحتي سیمه ده، چې ښه طبیعي هوا، روڼې اوبـه او لوړ غرونه لري.نوموړي زیاته کړې، موږ به هڅه وکړو، چې د تـورې بورې ترڅنګ د نـورو مشـهورو جهـادي مرکزونو



تاریخچه ولیکو او راتلونکي نسل ته یې د یو مستند تاریخ په شکل وړاندې کړو.د لوړو زده کـړو وزارت علمي مرستیال یاده سیمه یوه تاریخي سیمه بللې او ویلي یې دي؛ داسـې سیمو تـه تګ د جهاد او مجاهدینو سـره د بې کچې مینې پـه معنی دی، موږ به هڅه وکړو، چـې د جهاد لومړي مرکزونو ته پر وخت سـفرونه وکړو او د سـیمې د خلکو سـتونزې حل کړو.د سیمې خلکو له مشرانو څخه د ښوونځي، کلینک او سړک جوړولو غوښتنې کړي.مرستیالانو ... ۵مخ

## گفت‌وگوی مقام‌های ایرانی و امارت اسلامی در مورد مواد مخدر

مقام‌های ایرانی و امارت اسلامی در مورد وضعیت کشت کوکنار در افغانسـتان، بـه خصـوص تاثیرات فرمـان ممنوعیت آن از سـوی رهبری امارت اسلامی، گفت‌وگو کردند.سفارت ایران در کابل در توییترش نوشـته است که سید حسن مرتضوی، معاون این سـفارت با عبدالحق آخند همکار، معین مبارزه با مواد مخدر وزارت امـور داخله افغانسـتان دیـدار کرد.منبـع می‌افزایدکه توسـعه همکاری‌های دوجانبه در زمینه مبـارزه با تولید، قاچاق و اسـتفاده مواد مخدر و کمک به مراکز تداوی معتادان، از دیگر موضوعات بحـث در این دیدار بود.گفتنی است که امارت اسلامی کشت، قاچاق، استفاده، خرید و فروش مواد مخدر را در افغانستان، ممنوع کرده است.



## چین په افغانستان کې د موټرو د بطریو تولید برخه کې پانګونه کوي



د صنعـت کارانو ټولنې مسـوولین وایـي، چین پـه افغانسـتان کې د برېښـنایي موټرو د بطریـو د تولید فابریکې له جوړولو سره لېوالتیا لري. د صنعت کارانو ټولنې د غړو په وینا، چیني پانګوال وایي، که د افغانستان او چین تر منځ د بانکي ستونزو د حل لازم اقدامات وشي، دوی حاضر دي چې په افغانسـتان کې په لویه کچه پانګونه وکـړي. د صنعتکارانو ټولنې رییس عبدالجبار صافی وایي، چیني پانګوالو په ټوله کې په افغانستان کې د نـورې پانګونې لپاره هـم لېوالتیا ښـودلې. بل لـور تـه د صنعت او سوداګرۍ وزارت هم وایي، په هېواد کـې کورنیو او بهرنیـو پانګوالو ته د پانګونې په برخه کې زمینه برابره ده او زیاتوي چې، د چین په شمول د نړۍ د هـرې برخې پانګوال کولی شـي، چې په افغانستان کې پانګونه وکړي.

## د خبریالانو په مسلکي روزنه ټینګار وشو

د هلمند راډیو تلویزیون امر مولوي نظـر محمد زاهـد د افغانسـتان ملـي راډیو تلویزیـون لوی رییس قـاري محمد یوسـف احمدي او مرسـتیال هدایت الله هدایت سره لیدنه کړې.پـه دې لیدنه کې زاهد د هلمند راډیو تلویزیون د فعالیتونو پـه اړه معلومات ورکړي، چې پکې د اداري او نشـراتي چارو د لاښـه والي په اړه یو شـمېر وړاندیزونه او پیشنهادونه شامل وو.ښاغلي زاهد دغـه راز ویلي، چـې هلمند راډیو تلویزیون په خپلـو کمو امکاناتو د دې ولایت ټولو ولسوالیو ته سفرونه کـړې او په وینا یې د راډیو تلویزون راپوروڼو تولیـد برخه کې د پخوا په نسـبت ښـه والی راغلی.نوموړي زیاته کـړې، هلمند راډیو تلویزیون ددې ولایت په کچه ۱۵ ولسـوالیو کې نشـرات لري، چې د اسلامي امـارت پرمختیایـي، اقتصادي، سـوداګریز او بیارغوني موضوعات په سـیمیزه او ملي کچـه خپروي. مولوي نظر محمد زاهد ... ۵مخ

## یک مرکز پروسس و بافندگی برای زنان در بلخ ایجاد می‌شود

کمشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان (UNHCR) اعلام کـرده که در آینده نزدیک، یک مرکز پروسس و بافندگی را برای زنـان در ولایت بلخ افتتاح می‌کند.در توییتر این نهاد نوشته شده است که این مرکز با حمایت مالی صندوق توسـعه عربستان سـعودی، در منطقه قالین‌بافان ولایت بلخ فعال خواهد شد.منبع می‌افزاید، در این منطقه که عودت کنندگان و بی‌جا شدگان زندگی می‌کننـد، زنان بـرای حمایت از خانواده‌های شـان قالین‌بافی می‌کنند.گفتنی‌اسـت که بیشتر زنان در مناطق دورافتاده افغانستان به‌خصوص در شمال کشور، در خانه‌های شـان قالین می‌بافند و به‌فروش می‌رسانند.

## پکتیکا کې د ۱۵ پروژو چارې ۹۰ سلنه بشپړ شوي

د کوملي سینديزې فرعي حوزې مسولینو د پکتیکا ولایت په نکه ولسوالۍ کې د ۱۵ پروژو (استنادي دیوالونو، چکډمونو، ترینچونو او د کاریزونو پاکولو) د چارو له بهیر څخه شارنه کړې او اړوندو مسولینو ته یې د چارو د لا ښــه سمون په موخه اړینې لارښـوونې کـړې. د دغو پروژو چارې چې د ۱۷۰ زره او ۷۰۰ امریکایي ډالرو په ارزښت د ناروېژن موسسې له لوري پرمخ وړل کېږي، پکې ګڼو کسانو ته د کار زمینه برابره شـوې او چارې یې ۹۰ سلنه پرمخ تللې دي.تاکل شوې ده چې نوموړې پروژې په نږدې راتلونکي کې ګټې اخیستنې ته وسپارل شي.



## ډنمارک کې د قرانکریم په سوځېدو بندیز ولګېد

د ډنمـارک حکومت په عامه ځایونو کې د قرانکریم په سـوځېدو بندیز لګولی دی،د یاد هېواد چارواکو ویلي، داسې طرحه یې وړانـدې کړې، چې له مخې به یې په عامه ځایونو کې د قرانکریم په سـوځولو بندیز وي او هر هغه څوک چې ترې سـرغړونه وکړي، نو مجازات به شي.د الجزیرې د خبر له مخې، د ډنمارک چارواکو دا کار په دغه هېواد کې د امنیـت خوندیتوب لپاره کړی دی.د ډنمارک د بهرنیـو چارو وزیر لارس لوکي راسموسن ویلي چې په دې وروستیو کې په دغه هېواد کې ۱۷۰ لاریونونه شوي چې ډېری یې دسفارتونو مخې ته دقرانکریم دسوځولو په غبرګون کې دي.په همدې حال کې د یاد هېواد د استخباراتي ادارو چارواکو هم ویلي چې په ډنمارک کې د قرانکریم د سوځولو له کبله د امنیتي پېښو احتمال هم په لوړه کچه کې دی.دا په داسـې حال کې دی، چې څو ځله په دې وروسـتیو کې په دغه هېواد کې د قرانکریم د سوځېدلو پېښې وشوې، چې د اسلامي امارت په شمول یې ګڼو هېوادونو توند غبرګونونه راوپارول.

## بانک مرکزی افغانستان ۱۴ میلیون دالر را لیلام می‌کند

بانک مرکزی افغانسـتان، اعلام کرده اسـت که به منظور حفظ و ثبـات ارزش پـول افغانـی، امروز یک‌شـنبه، ۵ سـنبله ۱۴ میلیـون دالر امریکایـی را طی داوطلبی به طور لیلام به فروش می‌رساند.این بانک، از بانک‌ها و شـرکت‌های صرافی و خدمات پولی واجدشرایط خواسته است که در این داوطلبی اشتراک کنند. بانـک مرکزی افغانسـتان گفته است که برندگان لیلام مکلفیت دارند حساب‌های شان را تا ختم روز لیلام، تصفیه کنند.این بانک نوشته اسـت: «در داوطلبی‌های لیلام اسـعار، تسـویه‌ی قسمی معاملات مجاز نیست. برندگان داوطلبی مکلـف اند تا در مدت معینه، پـول ذمـت خویش را یـک بار به طور نقـد تحویل د افغانسـتان بانک/بانک مرکزی افغانستان کنند.» گفتنی است که بانک مرکزی افغانستان، پیش از این نیز میلیون‌ها دالر را به منظور حفظ و ثبات ارزش افغانی، طی داوطلبی به طور لیلام به فروش رسانده است.

## افغانستان کې د روغتیایي اړتیاو پوره کولو لپاره د مرستو غوښتنه

د روغتیا نړیوال سـازمان د راتلونکو څلورو میاشتو لپاره په افغانستان کې د روغتیایـي اړتیاو د پوره کولو لپاره د یوسـل او پنځه ویشت میلیونه ډالرو غوښتنه وکړه. دغه سازمان، د بودجې د کمښـت له امله په افغانستان کې له ۳۳ روغتونونو سـره، چې شاوخوا نهه میلیونـه افغانانو ته یې روغتیایي خدمات وړاندې کول، د مرسـتې د درېدو خبرداری ورکړی دی. د روغتیا نړیوال سـازمان پر خپلـه ټویټر پاڼه لیکلي، که په افغانسـتان کې د دوی د بودجې د کمښـت غـم ونه خوړل شي، اته لکه پنځه اویا زره ماشومان به په سـخته خوارځواکي اخته شي. د روغتیا نړیوال سازمان د افغانستان روغتیایـي وضعیت ته د اندیښـنې ترڅنګ ... ۵مخ



## ایټالیوي سیلانیانو له پنجشیره لیدنه کړې




د پنجشیر د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست مسـوولان وایي چې دغه ولایت ته له ایټالیا څخه د یوې ښـځې په ګډون دوه سیلانیان ورغلي دي.

د مسـوولانو په وینا، دغه سـیلانیان به د یـاد ولایت سـیاحتي او طبیعي سـیمو څخه لیدنه وکړي.د پنجشیر د اطلاعاتـو او فرهنګ رییـس نصرالله ملک‌زاده وړمه ورځ رسنیو ته ویلي چې سیلانیان د سولې سمبول دي او په وینا یې، د هېوادونو تر منځ د فرهنګي تبادلې زمینه برابروي.د پنجشـیر د اطلاعات او فرهنګ رییس ټینګار کړی چې دغه ولایت کې به د بهرنیو سـیالانو لپاره د حکومت له تک لارو سره سم اسانتیاوې برابـروي او امنیت به یې نیسـي.هغه همداراز زیاته کـړه هڅه به وکړي چې دغه ولایت تـه نور کورنـي او بهرني سیلانیان هم ورمات کړي.له هغه وخت راهیسې چې ا.ا بیا واکمن شوی د نړۍ لـه بېلابېلو هېوادونو څخه ګڼ‌شـمېر سـیلانیان د هېواد بېلابېلو سـیمو ته د چکر لپاره راغلي دي.د چارواکو په وینا، له بهرنیو سیلانیانو سربېره په کور دننه د کورني سلانیانو شمېر هم د پام وړ زیات شـوی چې د تېر اختر پر مهال یوازې د پکتیا ځاځي اریوب ولسوالي ته شاوخوا ۷۰زره سیلانیان ورغلي وو.افغانستان د چکر او سـیاحت لپاره ښکلې هوا او طبیعي منظرې لري، خو په تېرو کلونو او اوس کې سیاحتي سیمو کې د سیلانیانو لپاره د اسانتیاوو نشـتون او د سیاحت برخه کې د ځانګړې تګ‌لارې نشـتون لامل شوی چې تر ډېره دغه ښکلاوې د سیلانیانو له سترګو پټې پاتې شي.

## یک پل بزرگ در زابل بازسازی شد

پل بزرگ دریای ترنگ درزابل، بازسازی شد،این پل درشهرقلات موقعیت دارد و اخیرا در نتیجه ی سیلاب ها تخریب شـده بود. مولوی احمد الله احمدی رئیـس فواید عامـه ی زابل بـه آژانس باخترگفت: این پل بخش های از زابل را با هم وصل می کند که در امر انتقالات از اهمیـت بزرگی برخودار اسـت و از سوی آن ریاست باز سازی شده است.



## د بلخ حوزوي روغتون کې د اکسیجن د تولید دستګاه فعاله شوه

د بلخ مرکز مزارشـریف په ابو علي سـینا بلخي حوزوي روغتون کې وړمـه ورځ د ۳۵۰ زره امریکایـي ډالرو په لګښت د اکسیجن د تولید یوه دستګاه فعاله شوه.

د دغه ولایت د رسنیو مرکز په خپره شـوې خبرپاڼه کې د بلخ د عامې روغتیا رییس نجیب‌الله توانا له قوله راغلي: «پر دغه ماشـین ۳۵۰ زره امریکایي ډالر لګښت راغلی چې په یوه دقیقه کې د ۱۵۰۰ لیټره اکسیجن د تولید وړتیا لري.» سرچینې نه دي ویلي چې د یادې دسـتګاه لګښت د عامې روغتیا وزارت له بودجې او که د کوم بل مرسـتندویه بنسټ له خوا ورکړل شوی دی.خو توانا ویلي چې دغه دسـتګاه به د اکسیجن په برخه کې د دغـه ولایت د حوزوي روغتون د بسـتر ناروغانو اړتیاوې پوره کړي.